# نُصوص الحكم

دمولانا قيام الدين «خادم»

رباعيات

## دښاغلي قيام الدين خادم چاپ شوي کتابونه:

١ - د کوچنيانو اخلاقي پالنه
٢ - نوی ژوندون
٣ - روحي ګلونه
٤ - پښتو نولی
٥ - بايزيد روښان
٦ - د شريف سرګذشت
٧ - د مرغلرو امېل
٨ - خيالي دنيا
٩ - نبوغ او عبقريت
١٠ - نوې رڼا
١١ - د پښتو ننني ليکوال
١٢ - د پښتنو د تاريخ يوه سره پاڼه
١٣ - د خوشحال او رحمان موازنه
١٤ - مکارم الاخلاق
١٥ - څاروان
١٦ - د څلورم ټولګي د پاره د پښتو قرائت
١٧ - پښتو کلی
١٨ - معلم پښتو
١٩ - پښتانه شعراء لومړی ټوک
٢٠ - پارتيان څوک وو؟
٢١ - پر تذکرة الاولياء تبصره
٢٢ - کوشانيان څوک وو؟
٢٣ - د بابا نصيحت
٢٤ - سيد کمال او بيوجانه
٢٥ - د پښتو پتې؟
٢٦ - لوی اصحابان
٢٧ - نيشنلزم او انټرنيشنلزم
٢٨ - افغاني حکومت
٢٩ - د پښتو نثر
٣٠ - معياري پښتو

## نصوص الحکم

خادم دا ينستي په رومبي ځل د نصوص الحکم ۵۰۰ ټوکه په
۱۳۷۹ کال کې خپاره کړل.
چاپ: حليمي پرنټنګ ايجنسي ۱۲۵ ګل حاجي پلازه، پېښور.

د چاپ امتياز محفوظ دی

بسم الله الرحمن الرحيم

خادم کورنی (Khadem Dynasty) وياړي چه د مرحوم مولانا قيام الدين خادم د قلمي ناچاپه آثارو، نه يو نصوص الحکم چاپوی.

نصوص الحکم د خادم صاحب د درويشتو ناچاپه قلمي آثارو نه يو اثر (د رباعياتو مجموعه) دی. د خادم صاحب د درويشتو قلمي ناچاپه کتابونو نه په نصوص الحکم برسېره د يارلس روغ پاتې دی، نور يې په افغانستان باندې د روسانو په يرغل کې د افغانستان د ډېرو ملي شتمنيو غوندې خاورې شويدې. که د سام خادم (د مولانا خادم کشری زوی) چې کورنی نوم يې بشير خادم دي همت او ځارنه، نه وی نو نن به د غه پاتې کتابونه هم لاس ته نه وی راغلي. په دې ارتباط د بشير خادم سرگذشت، يو ببل داستان دی چې هغه د پښتو ادب سره د يو ايماندار او د يو اهل او صالح اولاد مينه ښيي.

خادم دا ښتې پوخ عزم کړيدی چې د مولانا خادم پاتې قلمي آثار زر چاپ کړی.

د ليکوال او محقق حبيب الله رفيع نه مننه چې په نصوص الحکم يې مقدمه وليکله او د شاعر او ليکوال محمد آصف صميم کوردې ودان وی چې د دې کتاب تايپی تصحيح يې وکړه.

Dynasty

# پښتون مفکر

## ارواښاد استاد خادم

تــانــه قــربــان شــم زمــا قــلــمــه
زمــا مــلــگــريــه زمــا هــمــدمــه
مــلــگــري واړه پــه بــلــه ولاړل
تــه مــې هــمــراه يــې لا تــر دې دمــه

ارواښاد استاد قيام الدين خادم (۱۹۰۷-۱۹۷۹م) د يو ښ علمي کورنی غړی و او د خپل وخت له شرايطو سره سم يې په هېواد کې دننه او بهر ديني زده کړې وکړې او د ديني زده کړو ترڅنګ يې دادب ژوره مطالعه او زده کړه وکړه او د دې ترڅنګ يې د فلسفې، سياست او ټولنپوهنې په برخه کې پر له پسې اوږدو مطالعاتو ته دوام ورکړ او ورسره يې د خپلې افغاني ټولنې چې دی يې پښتني ټولنه بولي د غړونو او رغونو له خاطرو او پندونو د کې پانې ولوستې او د خپلې ټولنې د ويده کتاب ژورو ته ور دننه شو او همدا وو چې له خپلې نظريې او علمي مطالعې نه يې د افغاني ټولنې په کچ مېچ برابر خاص او ځانګړي نظر ات رامنځته کړل او د خپلې ټولنې د اقتصادي، کلتوري، سياسي او اجتماعي جوړښت له پاره يې نظريې او تيزسونه وړاندې کړل او په دې هره ساحه کې يې د خپل نظر پر بنسټ تيړې کښېښودې او لارې يې ورته جوړې کړې. استاد خادم د خپل پياوړي قلم له لارې وکړای شول چې د نظم او نثر په ژبه خپل نظريات پاخه کړي او خپلې ټولنې ته يې ورسوي.

د استاد خادم د ټولو آثارو له جملې نه «نصوص الحکم» د ده يو داسې اثر دی

چې د قطعو او څلوريزو په بڼه يې ليکلي دا اثر تر ډېره حده کرونولوژيکه بڼه لري او سره له دې چې دده ځانګړي افکار ځرګندوي دده فکري تکامل او وده هم رابښيي او ګام په ګام د ده له افکارو نه دوري او ګردونه پورته کوي او په پای کې يې د غوښتنو او تيوري واضحه بڼه راڅرګندوي.

زه په دې ليکنه کې دهمدې قلمي کتاب په رڼا کې دده د فکر ځينې اړخونه په لنډيز راسپړم او له تاسو سره يې شريکوم.

استاد لومړی د فرد په جوړښت کې څلور ځيزونه ضروري ګڼي:

زور او قـوت دی پـه څـلـور ځـيـزه　　　درتـه يـې وايـم زمـا عـزيـزه

صحت، دولت او علم وشهرت دی　　　ښه يې په ياد کړه اهل تميـزه

دی دا څلور ځيزه په نورو قطعو کې يو په بل پسې تشريح کوي ترتيب يې لازم بولي او خپل دلايل ور سره راوړي، ورپسې واک او آزادي تر ټولو مهم بولي، د علماو عمل، روزنې، اخلاقو، د نارينه او ښځې د مساوي والي تر بحث وروسته قوم او ټولنې ته رارسيږي او د قوم تأثير او اغېز ډېر ژور بولي:

که ښل له قومه دې زوی او لور شي　　　له نورو خلکو سره محشور شي

دوی به هغه شي چې چېرې اوسي　　　په رنګ د نورو به رنګ ضرور شي

او همدا ځای دی چې د ټولنپالنه په نامه کتاب ليکي او پښتون د ژوند نوې لارې ته سيده کوي:

خـادم اپـسـتـلـې ده نـوې لاره　　　نوې ژوندون تـه سـمـه هواره

ټولنپالنه نـوې رڼـا ده　　　پـاڅـه روان شـه بـې خوف و داره

ورپسې له غربي تعليم او غربي فلسفې سره له دې کبله چې زموږ خودي وژنې مخالفت ښيي او ښتانه په پښتونواله باندې راټولېدو ته رابولي:

کاشکې غيرت مو مړ شوی نه وای　　　کاشکې همت مو مړ شوی نه وای

په پښتونواله واړه را غونډ وای　　　افغانيت مو مړ شوی نه وای

خادم صاحب په دې پسې د شخصي فکر پر ځای د ملي فکر تلقين کوي او دارتقا اوبره تګ لارو ته ځوانان رابولي، وحدت ته بلنه ورکوي او تشتت غندي،

تـل يـې د قـوم بـيـرغ اوچـت کـړ　　　دا يو افغان و چې يې همت کړ

نن داڅه تيکه شوله رابيکته　　　چې هر يو کلی خپل ځان ملت کړ

او ځوانان دښکېلاک هغې دسيسې ته چې په «بڅېل يې کړه اېل يې کړه» ولاړه ده ملتفت کوي.

استاد دملي وحدت دټينګښت له پاره په واحد ملي کلتور او واحده ملي ژبه ټينګار کوي او داديوه ملت په وحدت کې دبنسټ ډبرې ګڼي او ورانکاري غندي:

هر يو لګيا دی په ورانولو — دلوی افغان په راپرزولو
دود او دستور او دين پاتې نه شو — کار يې مشکل شو دجوړولو

ورپسې فاسد حکومتونه دملت دهلاکولو مرض ګڼي، دی په کلتور او اقتصاد زور راوړي او دملي سياست برياليتوب په همدې کې ګڼي:

کلتور و هر قام ته لکه ساده — هو اقتصاد يې دژوند بقا ده
قام دې ژوندی کړه سياست دانه — له عمرو پاتې دغه خلا ده

دی دمليت په فلسفه عمل کول او دا لاره پالل دوخت دواک بريالی بنه بولي:

دواکوالي شکلونه ډېر دي — څه مې په ياد دي او څه مې هېر دي
خو دانن عصر دمليت دی — دنورو چارو وختونه تېر دي

داهم بايد ياده کړم چې مليت په هغه معنې نه دی چې کمونستانو رايجه کړې وه، او دافغانستان قومونه يې مليتونه بلل او ديوه واحد ملت دسره ببلولو هڅه يې کوله چې اوس ځينې نور غرضيان هم همدا کار کوي او په افغانستان کې د مليتونو په نامه نفاق ته لمن وهي بلکې مليت ديوه ملت دجوهر په معنې دی او ملت او مليت داسې تړون سره لري لکه انسان او انسانيت، شخص او شخصيت او داسې نور. ارواښاد خادم همدا دافغاني ټولنې دادانې جوړولو په فکرونو کې ډوب و چې په هېواد کې د داود خان له خوا جمهوريت اعلان شو او خادم صاحب يې داسې هرکلی وکړ:

جمهوريت وارزو دخلکو — دالوی نعمت و ارزو دخلکو
افغان به اوس شي سيال دقومونو — ملي نهضت و ارزو دخلکو

***

جمهوريت دی اختيار دخلکو — چې پکې نه وي ازار دخلکو
چې خلک يې غواړي همغه کېږي — حکومت نه وي بادار دخلکو

خوده ته په دې خطرناکو نړیوالو حالتو کې دجمهوریت یوه لاره هم ډېره باریکه ښکاري:

دبلاکونو ترمنځ تلل بویه لارېه رسی، ده پرې ختل بویه
منځ ددې تولو خپل ملیت دی په دې مرام ښه پوهېدل بویه

همدا وخت دی چې خادم صاحب په خپلو تیوریو کې اجتهادي پوړيو ته رسیږي اودملیت له پاره بنیادي شرطونه ټاکي:

دملیت دي اته شرطونه قام، وطن، ژبه، خپل عادتونه
دین حکومت اوتاریخ، ثروت دی جوړ په دغو تول ملتونه

اوبیا داهرشرط بېل، بېل څېړي او تفسیروي يې:

دی په خپلو نظریاتو کې پښتو ژبې ته خاص ارزښت ورکوي او پښتنو ته دهغې دپاللو او ساتلو توصیه کوي:

پښتو موژبه پښتو مو ساه ده افغانانه پوه شه دامدعاده
چې چانه لاړه هغوی خو مړه شول اوس مودي پاتې قام ته سودا ده

اوبیا دهغو پښتنو غوږ ته ورکوي چې په نورو لیرې او نژدې قومونو کې ورک شوي، ژبه ترې هېره شوې او تش په نامه ځان ته پښتانه وايي او له همدې امله تېنګار کوي چې:

ملت په ژبه باندې جوړېږي داکار بې ژبې بېخي نه کېږي
تسو له دنیا ده په دې خبره پښتون لا اوس هم پرې نه پوهېږي

***

که دا غفلت وي پښتو ورکېږي چې پښتو لاړه پښتون ډوبېږي
تللي خو تللي دي خیر به غواړو پرپاتې قام مې اوس زړه رپېږي

اروانښاد خادم دقوم او ژبې داهمیت له پاره دپاک قرآن محکمې رسی ته لاس غځوي او ددې مبارک آیت په رڼا کې: « وجعلناکم شعوباً وقبایل لتعارفوا » داسې وايي:

هر یو انسان چې کوم ځای کې زېږي په قام قبیل خپل پېژندل کېږي
ددې خدایي کار چې داحکمت دی نفي او نهي یې نه ښایېږي

اودژبې په برخه کې دقرآن کريم دا ارشاد «ومالرسلنامن رسول الا بلسان قومه» يو علمي سبق بولي، وايي:

لسان قومه، مور ته ارشاد دی رسول دقام دی دايې مراد دی
چې په اسلام کې له قام منکروي پوه شوی نه دی غريب برباد دی

اودهمدې تيورۍ په رڼا کې پښتون قام ته پښتانه استازي داسې شمېري:

سپېڅلی راوړه دژوند کتاب ملي رايج کړه دخوند کتاب
خيرالبيان شو الهام روښان ته خادم ته راغی دژوند کتاب

***

څلور استازي څلور کتابه درته راکوز شول له لوړ جنابه
پښتو نه لار دی حق ته مونده کړه که لاويښ نه يې د مرګ له خوابه

او بيا دڅان په برخه کې نور وضاحت هم ورکوي:

خادم راوړي څلور کتابه په پښتوژبه له لوړ جنابه
څلور اندامه دېو وجود دي خپلواک پښتون شوجوړ په څو بابه
نوی ژوندون دی، نوې رڼا ده په نوې لار کې دژوند بقا ده
خپلواک پښتون ته چې پرې رسېږو تسولتيپالنه مو مدعا ده

دده له نظره دژبې قوت دېر زيات دی او استعمار هڅه کوي چې لومړی له ملتونو نه ژبې واخلي:

استعمار غواړي چې پښتون مړ شي له څمکې ورک شي په خاورو خړ شي
داکار دژبې په مرګ کېدی شي چې پښتو مړه شوه دښمن به ور شي

دی مشر اوليډر هغه بولي چې دملي وحدت سمبول وي:

مشر ليډر دی اوکه سرکار دی چې ملت يو کا دغه يې کار دی
خوکله خپله دوی نفاق راوړي دالوی عذاب دی او لوی ازار دی

## مهم او اهم

اول صحت دی بیا ثروت دی
ور پسې علم او معرفت دی
تر دینه وروسته چې خطا نوځې
لازم انسان ته صحي شهرت دی

## د صحت شرطونه

څلور شرطونه دي، د صحت
اول دی کار او دویم راحت
سپین زړه په کار دی له غمه وللی
له اعتداله مکړه غفلت

## اخلاق

چې مکمل د انسانیت دی
هغه اخلاق او صحي شهرت دی
دنیا کړه فتحه په ښو خویونو
دا غوښتل شوی ستا له فطرت دی

## ثروت

که غواړې دا چې شې مالدار
ونیسه ټینګه لمن د کار
لګښت دې کم کړه له امدنه
ذخیره ساته که یې هوښیار

## علم

علم ادراک دی د حقایقو
رڼا مشعل دی د لاره ورکو
عمل پی وکړه چی کتاب نه دی
لعل بدل نکړی په تش کنجکو

## د علم لاره

اول عمل کړه، چې ښه عامل شې
خپله به پوه شې، ښه به کامل شې
که عامل نه یې علم به څه کړې
که ته عالم شې او که فاضل شې

## عملي علم

علم هغه دی چې له کول وی
اول يې تخم بيا يې کرل دی
دروم په لاره د کاملانو
اول مزل دی، وروسته منزل وی

## له عمله علم

چې څوک عمل کا تجربه کار شي
ورو، ورو له هر څه، نه خبردار شي
چې پکښې ګرځي سړی بلد شي
که مسافر څوک د بل ديار شي

## تفکر او کار

دماغ ادراک کا، غړی کارونه
نه جدا کېږي دا له ژوندونه
دماغ په فکر غړی به مشق
درته خدمت کا دواړه شیونه

## د تحصیل اله

ماغزه د غړیو په لار خبرېږي
غړی په فکر هم بیا خوځېږي
پوهه بې کاره څه په کار نده
کار بې له پوهې هم په کارېږي

## تعلیم او تربیت

دا دواړه شیه د ژوند منظور دي
دواړه په یو شان مونږ ته ضرور دي
اول ښوونه، او بل پالنه ده
په تربیت او تعلیم مذکور دي

## عالم او ټولنه

عمل هم کار دی، په حقیقت کښې
عالم عامل دی، په جماعت کښې
ځینې ښودل کا، ځینې کول کا
دا تقسیم شوی، دی په فطرت کښې

## عالم او کاسب

کاسب عالم ته ،عالم کاسب ته
کاتب عسکر ته، عسکر کاتب ته
سره محتاج دي، خو مخکښې تلنه
حق د استاذ دی و خپل طالب ته

## خپل شهرت

هر سړی کاندي، د ځان ستاینه
رشتیا کمال دی، د ځان ښوونه
همدغه کار دی، چې حکیمان کړي
د بل په ژبه، په خپله کړنه

## روغ بدن

نجات روحی دی، جسماني ندی
دا نوراني دی، ظلماني ندی
روح په روغ تن کښې، ښه اکتساب کا
گر چی باقی دی، او فاني دی

## روح او جسم

بوی دی په گل کښې، گل په چمن کښې
داسې هم روح دی، ستا په بدن کښې
که قوت غواړې، سستې ونکړې
په تربیت د، خپل روح و تن کښې

## ارتقاء د ژوند

ارتقاء عین ، زور او قوت دی
کمال د فرد او د جماعت دی
مطلب د هر چا همدغه شی دی
علم ښو دلی دا حقیقت دی

## دکار شرایط

کار کښې نظام او سلیقه بویه
خوښ یې په ذوق و په شوق کړه زویه
دوام او پوهه ، درلره ښایي
چې خو خبر شې، له هره کویه

## سعادت

په څلور څیزه کې خوشبختي ده
علم او کار او تندرستي ده
څلورم رکن یې واوره عزیزه
صاف درته وایم چې سادګي ده
۱۳۳۳ د حوت ۲۵

## خوی او خصلت

اخلاق حاصل په ښه تربیت شي
په پیروئ د لوړ شخصیت شي
زده کړه کیدی هم ، شي له کتابه
د سړیتوب کار ، په ښه خصلت شي

## دژوند اوبه

د ژوندون لار ده ، مشکل گذاره
خو شرط يې دادی، چې ته به درومې
د ژوند اوبه دي، تپه تياره کښې
خو که ته درومې، نو څه به مومې!

## کار او ژوند

کار کوه ، کار کوه، چې کار ژوندون دی
هغه چې کار نه کړي، ژوند يې زبون دی
کار وظيفه ده، له حرصه پاکه
ښه يې په ياد کړه، عالي مضمون دی

## قوت او واک

قــوت پــه عــلــم ، واک؟ ازادی ده
چې دا يې نـه وي، څـه يې ښـادي ده
که واک يې نه وي، پوهه به څه کړي ؟
پــه دې دوه تــوکــه، نــن ابــادي ده

## سیاست

چې پـه خـولـه نـشـي ويـل کـيـدلای
کـار يـې پـه رمـز او پـه اشـارت وي
مـور يـې پټ ساتـي لـه زوی او لـوره
دا سـيـاسـت د ی، دا سـيـاسـت دی

## بی قدری

په کوم يو قام کښې چې بې قدري شي
اکثره خلک يې، چور ليوني شی
د چالاکانو، ښه قدر کېږي
ځان ته حيران يې هوښيار سړي شي

## ژوند او اعتدال

دنيا و دانه، په اعتدال ده
دا د ژوند لاره، او د کمال ده
ژوند که د فرد وي، که د ټولنې
بې توازنه، ښادي محال ده

## خوند او ژوند

چې زړه بای نه لې په خوشحالیو
ځان دې خبر کړه له بدبختیو
که دادې زړه وي، چې تل به خوښ يې
له زاړو خواست کړی، دکتېوريو

## قوت او نیکي

که دولتمن يې، که لوی واکمن يې
او که خاوند ته، د علم و فن يې
قوت په خير او نيکۍ کښې صرف کړه
که تش ځان غواړې، د ځان دښمن يې

## سپین زږه

نیت چې سم شي، غمونه کم شي
سړی په خلکو کی محترم شي
که ورانې وینې له حاسدانو
ورته اسانه د هغو زغم شي

## نېکه مجادله

جواب په کار دی، د بد خواهانو
د حاسدانو، د مغرضانو
په داسې توګه، چې دې دوستان شي
دښمنې مکړه د دښمنانو

## اغزي ويستل

مقصد د لارې، صفا کول دي
د ظلمتونو، رڼا کول دي
ښه لاريي نښکه، مجادله ده!
يا په تسکوره اغزي ويستل دي

## خير او نېکي

که بل را جګ کړې، له مذلته!
له بدبختيه، له حقارته
بس نېکي داده، نور نو ته پوه شه
چې ښکګه باسې، له او بوکته

## اعتدال او توازن

اعتدال بویه په خورد و خواب کښې
هم په خبرو، سوال او ځواب کښې
تله په لاس به، هر یو عمل کړې
د ژوند هر پل دې، په یو حساب کښې

## سیاسي ښه توب

ښه کار هغه دی، په سیاست کښې
چې ښه حساب شي، په جماعت کښې
لا ر درته ببرته د زندګی کا
اضافه وکا ستا، په قدرت کښې

## سمه لار

سم سړی نه ځي، په کږو لارو
لمن را نغاړي، له بدو چارو
له چل فریب او، د غانه ځنګ کا
ساتي هوما تل، ځان له مردارو

## بدنامي

کامیابي نه ده، چې څوک خچن شي
لوړ په جرګو کښې د خپل وطن شي
دولت به څه کا، منصب به څه کا
چې پاک ذهنونه ورته بد ظن شي

## زور او حق

کله زور حق شي، کله حق زور شي
هر یو چې ور شي، کارونه نور شي
دنیا د دواړو د جنګ میدان دی
خو کامیابي تل د حق په لور شي

## د ځان تربیت

د ښو عاداتو، نوم تربیت دی
ښه خوی هماغه، د ښو عادت دی
استاذ مرشد او، لیډر پیدا کړه
که خوښ دې ځان ته، انسانیت دی

## زدکړوځی

ښه کورنی او، مکتب جنت دی
دغه زدکړوځی، د خوی عادت دی
که دا جنت درته په لاس رانغی
تر اخر عمره، لا هم مهلت دی

## د سړیتوب لار

د لاربنوونکو، صحبت اختیار کړه
ددوی په نغوته، برابر کار کړه
دا سمه لار ده، وسړیتوب ته
که رسېدل غواړې، و کوم معیار ته

## د مشر لتون

د لار ښوونکی، پېژندل بويه
چې خطا نوځي ښاغلیه زويه
چې لاس دی ور کړ، بيا يې پرېښږدې
سرې سپکېږي له خپله خويه

## انتظام

که څوک بې پيره او بې مذهب شي
لوچک فضول او، خوشې بې ډب شي
دنيا ودانه، په انتظام ده
افسوس انسان ته. چې بې جلب شي

## لا رښوونکی

که لا رښوونکی، لتهوی زویه
خاوند د عزم او، د حزم بویه
علم او عقل او، عمل یی شرط دی
چې رسوی شي مرید تر کویه

## حوصله

زړه دې تنګ نکړئ یون د دنیا ته
ور سره درومه، خواته او شاته
هر څه بدلېږي مایوسه نشي
نوبت به راشي، ستا مدعاته

## سپینتن وایي

سپـېنتـه من وایي ،نیت دې سم کړه
وینا دې ښه کړه ، الفاظ دې کم کړه
کـار او کړه بـویــه ، چې بې ازاروی
په دې درې تـوکـه، فتـحـه عـالـم کړه

## غم او زغم

چې ته سم نشې ، کـار بـه سم نـه شی
پـېـتـې د غـم بـه ، در نـه کـم نـه شي
ددنـــیـــا گـــی دي ، ډېـــر کـړاوونـــه
قـوي روح بـویــه ، بـې لـه زغـم نـشـي

## قلم ته

تا نه قربان شم، زما قلمه
زما ملګريه، زما همدمه
ملګري واړه، په بله ولاړل
ته مې همراه يې، لا تر دې دمه

## خوند او ژوند

د خوند په فکر، سړی بې‌خوند شي
ازاد ژوندون وي، بنده ته بند شي
که بنده نشوې، د خواهشاتو
نو به آزاد شې، پوه به په ژوند شې

## پر ځان واک

ځان دی په واک کړه، نو به واکدار شی
له سره تېر شه، بیا به سردار شې
که یو څه ور کړې، یو څه به واخلې
که هر څه غواړې، نو ډېر به خوار شې

## کــــنډه

ژوند چې مزې شي، نو بې مزې شي
لکه ژوندون، چې، واړه مــبلې شي
هر څه په تول دي، پـه دی دنیـا کی
بنا شي رنـګه، چې بې کنډې شي

## د کړاو سبب

ژوند چې مزې شي، نو بې مزې شي
مړې په سړي کې عالي هيلې شي
کړاو او ستونزه، کا ځان ته جمع
څوک چې په يو مخ، مزو پسې شي

## اعتدال

ژوندون پخپله، يو اعتدال دی
چې نا انډول شي، ژوندون محال دی
د جامعې، وي که دا د فرد وي
انډول په هر خوا کښې لوی کمال دی

## کوم کار ښه دی؟

کار هغه بویه چې په لاس درشي
لوی وي که ووړ وي، چې میسر شي
نور یې لا پرېږده، گټه یې داده
په مشکلاتو، سړی زړور شي

## ښځه انسان دی

ښځه انسان دی، انسان یې بوله
زوی دی که لورده، یو شان یې بوله
غیرت ودوی ته، زده کول ښایي
دوی پښتانه دي، افغان یې بوله

## د قوم تاثیر

که ښېل له قومه دي، زوی و لور شي
د نورو خلکو، سره مشور شي
دوی به هغه شي، چې ځېږي اوسي
په رنګ د نورو به، رنګ ضرور شي

## ذلــــت

افغان را ټیټ شو، دومره ذلیل شو
چې سپک یې خلکو ته، هریو دلیل شو
نور یې خبري لـه منځه لاړې
په شرافت کښې یې قال و قیل شو

## نــــوې لاره

خــادم ايــســتـلــی ده، نــوې لاره
نــوي ژونــدون تــه، ســمــه هــواره
ټــولــنــپــالــنــه، نــوې رڼــا ده
پــاځــه روان شــه، بــې خــوف و ډاره

## بد محیط

چــېــر تــه چې عــلــم، نــه پــکــارېــږي
چېرته په فـضـل چی خلک ځوريږی
د رذائــلـــو بـــازار چـــی تـــود وي
هــلــتــه بــه ښــنــگــه انــســان لــوېــيــږي

## ښځه متاع نده

ښځه متاع د تجارت نه ده
او هم اله د سیاست نه ده
توریستان څله ورت جلبېږي
که خرڅېدونکې په دولت نه ده

## د ښځې حال

پخوا وه ښځه د پلار په لاس کښې
اوس ده نیولې، سرکار په لاس کښې
هلته د کور وه، دلته د نورو
فکر په کار دی، په دې اساس کښې

## استعمار

لــه استــعــمــاره ، تــوبــه تــوبــه شــه
د غــرب لــه کــاره ، تــوبــه توبــه شــه
ښــه مــنــقــش دی، پــه ښــو رنــگــونــو
لــه دغــنــه مــاره ، تــوبــه تــوبــه شــه

## غربي تعليم

غرب په تعليم، خپل کولتور اخلي
له زړه او ستــرگــونــه، نــور اخــلــي
چې سړی رنگ شو، په دغه خم کښې
ماده معنــی تــرې، ضــرور اخــلــي

## د غرب کمال

مغرب له شرقه، خپل استحصال کا
خدای رو ببښکه، چې لوی کمال کا
لـه سري هـر څـه، پـه هـنـر واخلـي
بیـا یې له ځانه لا هـم خوشحال کا

## ملي مقیاس

کاشکې زلمی مـو، زمونږ په لاس وای
خپل مو تعلیم وای، خپل مو اساس وای
نـفـوذ د نـورو، پـه مـونـږه نـه وای
خپـل مـلـیت مـو، راتـه مـقـیـاس وای

## تینګ ایمان

کاشکې له بل چا، نه وېرېدلای
د بل په لمسه، نه لمسېدلای
طمعه مو نه وای، ایمان مو تینګ وای
دوستي مو هر چا، سره کولای

## افغانیت!

کاشکې غیرت مو، مړ شوی نه وای
کاشکې همت مو، مړ شوی نه وای
په پښتنواله، واړه را غونډ وای
افغانیت مو، مړ شوی نه وای!

## د چا عیب مه وایه

په خلکو مکړه اعتراضونه
صریح بی پوښه، انتقادونه
عیب یی په ډاګه، ورته مه وایه
د هرچا خوښ دي، خپل صفتونه

## د ژبې هنر

چې هم کلا ده، او هم بلا ده
د خپلې ژبې، په باب رشتیا ده
ګفتګو لویه، هنرمندي ده
ژوندون بیشکه، چې معما ده

## علم او هنر

علم بې فنه سېږی رسوا کا
هنر په ژوند کښې لاره پیدا کا
اکثر په علم سړی معتوب شي
بل یو په تېوکو حل معمّا کا

## د علم او هنر ارتباط

علم وجود دی، واقعیت دی
هنر تعبیر دی، ښکلی صورت دی
علم لیلا ده، نا پسولل شوي
هنر د علم زیب و زینت دی

## د عوامو او خواصو پوهه

ذوق د عـوامـو، لـيـدل خـوړل دي
سـمـع ، بـصـر او ، لمس كـول دي
كـار د خـواصـو ، تر دېنه لوړ دی
سپړل ، څـېړل او پـرې پـوهـېدل دي

## د مخاطب په سويه خبرې

كـلم النـاس كـښې ، لوی حقيـقت دی
دا پـه ژونـدون كـښـې ، واقـعـيـت دی
ساينس به جاهل ، ته څنگه ور زده كړې
دا امـتـحـان سـتـا ، د عـلـمـيـت دی

## له خپله لاسه

کاشکې خپل ځوان مو، وژلای نه وای
کاشکې خپل ځان، مو وژلای نه وای
کاشکې تکیه مو، په خپل ملت کړای
کاشکې افغان مو، وژلای نه وای

## ځان پېژندنه

کاشکې چې مرگ مو، ژوند نه گڼلای
لارې د ژوند مو، نه بندولای!
اوس به په علم و، هنر غني وای
ځان او جهان به، مو پېژندلای

## د وطن اصلاح

وطن چې وران شي، په دسا یسو
خلک اخته شي په خبا یشو
قوت د علم او، اخلاقو بنا یي
چې بریالی شي په وساوسو

## نا اشنا حکومت

چې مامورین ټول، پر یوه خواشي
پر تیتهولو، د قام لګیا شي
نوم به د داسې، حکومت څه وي؟
کله مې دا سوال، و زړه ته راشي

## د قام دښمن حکومت

ډیرې خبرې، مې دي لوستلې
او داسې ډېرې، مې اورېدلې
خپل حکومت دې د قام دښمن شي
دا مې و مخ ته نه دي راغلې

## نوی تلقین

نه دې وطن شته، او نه دې قام شته
نه پلار ومور او، نه دی مرام شته
زمونږ زلمي ته دا چا تلقین کړه
چې نه دې ژبه، نه دې کلام شته

## هوسي ژوند

ژوند يې په فکر، کښې يو هوس دی
قــانــون وده وتــه، يــو قــفــس دی
ازادي غـوارې، چـې بـې قـيـدي وي
لوی حقيقت ورته، لکه يو خس دی

## د زندگۍ معنی

زنـدگي زنـد دی ، او زنـد زنـدی ده
بـنـدگـي بـنـد دی او بـنـد بـنـدی ده !
چې يو دې مات کړ، شل پيدا کېږي
مـعـضـلـه سـخـتـه او پـخـوانـی ده

## دژوند هدف

هر څوک په ژوند کښې اعتلا غواړي
لـکـه گـلـونـه، چـې رڼـا غــواړي
واړه عـذاب شـي، کـلـه چـې ډب شـي
خـلـک لـه ژونـده، مـدعـا غـواړي

## د مرام اعتلا

لوړ وي مـرام چې، څـومره هـمت وی
چې څو همت وي، هومره رفعت وي
څوک د خپل ځان، په فکر کښې ډوب شي
د چـا د فـکـر، هـدف مـلـت وي

## د اهدافو فرق

ځوک په خدمت کښې لوېيدل غواړي
ځوک په قدرت کښې لوېيدل غواړي
چا ته پيسه لا، لکه معبود شي
د نورو خلکو، تيتېدل غواړي

## انساني صعود او نزول

انسان چې لوړ شي، لکه ملک شي
په سر د خلکو، لکه فلک شي
چې ښکته پرېوځي دا ميراث مړی
وجامعې ته، لکه تلک شي

## بښېگڼه

دنیا پیدا ده، په خیر وشر کښې
خلک حیران دي، په دی هنر کښې
بهتره داده، چې سړی ښه کا
که کله پرېوځي، هم په ضرر کښې

## ملی انتقام

که ملت تېټ کړې، چې ته پرې بر شې
خلک ړانده کړې، چې ته رهبر شی
بېغمه نشې، له انتقامه
زر به له حاله، ځنی خبر شی

## د خدای غضب

د خلکو قهر، د خدای غضب دی
ځمکه د خدای ده، مخلوق د رب دی
څوک چې د خلکو، دښمنی اخلی
د پرزېدلو، همدا سبب دی

## د ښتنو حال

ملت څه خره او غوایي خونه دي
دا چې په دوی شي وګورئ څه دي
څوک یې په خرو او غوایانو نه کا
نن څه کانی چې، پر ښتانه دي

## د عدالت دوره

دوره شوه تېره، د ظالمانو
د مکارانو، د عیارانو
عصر د عدل او د خدمت دی
لږ ځان خبر کړئ، ای حاکمانو!

## ملي دښمني

رشتیا رشتیا چې، ملت دی مړ کړه
خپل مخ دې تور او، زمونږ دې خړ کړه
ورځ د حساب او کتاب به راشي
ښه شوه چې خپل ځان دې راته پر کړه

## راهــــزن

څه کوې ، کوم خوا درومې روانـه
لاره دې ورکه، کړه لـه کاروانــه
تــه خــو راهــزن وې ، لاروی نــه وی
چا را بهـر کړې ، لـه کوم جـزدانـه ؟

## په ملت شبخون

تول يو افغان دی ، تول يو پښتون دی
تا چی کوم فکر ، کړی زبون دی
تول يو وحدت دی ، تا تجزيه کړ
په لوی ملت دې ، کړی شبخون دی

## ملی وحدت

تول یو ملت دی یو یې لسان دی
یو یې مذهب دی، نوم یې افغان دی
پښتون همدغه، ملت ته وایي
لکه جرمن چې، نوم یې المان دی

## افساد

په یو وطن کښې دا تضادونه
په ځو ځو رنګه، اختلافونه!
د استعمار تقسیم نه وروسته
چا را پیدا کړل، دا فسادونه؟

## ملي حاسد ته

په قوانينو را ايسار نشوې
له لويه قامه، څخه ډار نشوې
په ورځ د حشر، به څه ځواب کړې
فرض کړو چې دلته، که سنګسار نشوي.

## ملي کاروان

رښتيا روانه، که ته روان يې!
په فکر او ته، د کوم کاروان يې
بې مليته، بل کاروان نشته
باور پرې وکړه، که ته افغان يې

## يــــوه لاره

عــوام تــلــقــيــن او يــقــيــن تــه اړ دي
خــو پــوه عــالــمْ او ، امــيــن تــه اړ دي
چــې ورکــه لاره ، د ژونــد رڼــا شــي
هســې تــشــخــيــص او تــعــيــن تــه اړ دي

## شــــکوک

ډېــرى خــبــرې ، لاره ړنــده کــا
لــکــه انجــړه ، څــوک مــشــوره کــا
ډېــر تــضــادونــه ، مــلــت کــې ســتــړى
شــکــمــن پــه کــارېــې ، هــم پــه دنده کــا

## د قام ګډوډي

فکرونه یو شی چې یو کلچر شي
کلچر یو کیږي، چې یو مظهر شي
مظهر ګډوډ کړه ، قام به ګډوډ شي
که دا مرام وي، مرام به سر شي

## قومـــــي شقاق

که څوک قوم، ور کول غواړي
په دغه شان یې، شملول غواړي
رسم و رواج دې، ور ګډوله کا
که یو تربل یې، ببلول غواړي

## ګډوډي او استفاده

محیط ګډوډ کړه، ځوان به ګډوډ شي
چې ځوان ګډوډ شو، قام به ګډوډ شي
په ګډوډۍ کښې هر څه کېدی شي
هر څه به کړی شي، شان به ګډوډ شي

## د استعمار نسخه

د استعمار دا پخه نسخه ده
ازمایل شوې او تجربه ده
اختلاف جوړ کړه، بیا حکومت کړه
که دې په زړه کښې استفاده ده

## دود دستور

کورنی جوړه، په دود دستور ده
چې کولتور وران شي، ورانې ضرور ده
د غرب سیلاب چې، په مونږ راسم شو
تباهی راغله، دا یې منظور ده

## ورانه ورانی

د لوی افغان شوه، عایله ورانه
په نتیجه کښې جامعه ورانه
ورانه ورانی شوه، په قام کښې جوړه
افغان را پرېوت، په ډېر اسانه

## ورانکاري

هر یو لګیا دی، په ورانولو
د لوی افغان، په را پرزولو
دود او دستور او، دین پاتې نشو
کارېې مشکل شو، د جوړولو

## حکومت

انسان انسان دئ شیطان کېدی شي!
د ځمکې زوی دئ اسمان کېدی شي
اوس واړه کار دی، په حکومت کنبې
حکومت هر څه، هر شان کېدی شي

## ځنګلي ژوند

څوک چې هر قید او، بند شلول غواړي
په خپله خوښه، ژوند کول غواړي
ځنګل د دې ژوند ښه نمونه ده
هلته دې ورشي، که ور تلل غواړي

## ایډیالیست ته

کوم ځای په فکر، او خیال کښې ګورې؟
کشمیر د چرسو په تال کښې ګورې
بې قیده ژوند خو، هیڅېرې نشته
حیات د ژوند په، زوال کښې ګورې!

## فاسد حکومت

حکومت زړه دی، د قام مرکز دی
فساد د دی زړه، شخصي غرض دی
چې زړه فاسد شي بدن مریض شي
هلاک قوم، له دې مرض دی

## ملت او حکومت

که ملت ښېل شي، حکومت ښېل شي
له دې ښېلتونه جوړ تېل نا تېل شي
نظام پخپله، نور خرابېږي
چې ملت خوار شي، حکومت فېل شي

## پټ استعمار

پټ استعمار نن، پټي فتنې کا
په زر رنګونو، سره پلمې کا
چې استعمار کا ، د ملت خونه
د واک خاوند ته، وړاندې بونګې کا

## چومبې ګان

هلته کانګو دی، روډيشيا ده
دلته ايران دی، او پښتونخوا ده
دنيا ده ډکه، له چومبې ګانو
چګره روانه، دلومبا ده

## د پښتونخوا مجادله

په پښتونخوا کښې، مجادله ده
د هر يو ظلم او تيري سره ده
فتح په خوا به، د لوی افغان وي
صبا راتلونکی، دی تېره شپه ده

## معمور افغان

جهاد ځای ونيو، د ميا روښان
ملت يو کبږي، د خوشحال خان
عطر پاشي چې، پرې رحمان وکړه
خادم معمور کړ، هغه افغان

## هوښيار افغان

خلک ويده وو، بابا بيدار کړل
روان په لاره، عبد الغفار کړل
تا ژبه ورکړه، محمد گل خانه!
خادم ته گوره، څومره يې هوښيار کړل

## معقوله دنيا

ما د ژوند لاره، در ته رڼا کړه
څومره معقوله مې، دا دنيا کړه
بلکامې درکړه، اې ټولنپاله
لږ خو په ښه خوله، مې حق ادا کړه

## عصري پوهه

په عصري پوهه، مې ملک آباد کړ
د زړه په وينو، مې ټينګ بنياد کړ
اوس مې يقين شو، افغان جوړيږي
ميدان مې فتح، له استبداد کړ

## پښتون او پښتو

پښو ژبه د پښتون د ټبر ساه ده
په ميدان د سياست کښې يې همسا ده
اوس ګير شوی هم د ژبې په ګناه دی
«خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده»

## پالیسي

یمه حیران دې، دیموکراسی ته
لاورپسی هم، خلق شناسی ته
ملت منمه خوبسې له ژبې
گوره دې حزب اودې پالیسی ته

## د انگریز ماته

انگریز غمجن شو، چې دلته مات شو
دا فتحه نه وه، مونږ ته پسات شو
په مغولواله، کښې قام ژوندی و
چې انگریز لاړو پښتون میرات شو

## د پښتنو دښمني

له انګرېز پاتې، د پښتنو دښمني
د لوی تېبر، د پرګنو دښمني
اوس یو څو کسو، په ذمه اخیستې
د پښتنو نه خوا د مېړنو دښمني

## د انګرېز چل

پرنګي چې په پښتون باندې یرغل کړ
خپل عسکر یې د پښتون په سیمه دل کړ
دی هغه وخت په پښتو ژبه نادان و
خو چې پوه شو، نو پښتو ته یې ساز چل کړ

## زمونږ وخت

سودا د هر چا خپله شخصي وه
زمونږ په وخت کښې دا پالیسي وه
د ملت فکر چا سره نه وه
ورځ د قیامت وه، نفسي نفسي وه

***

سر مې خوږ شو د نا اهلو په روزنه
هیڅ چا ونکړه خادم باندې لورنه
لاس را اوږد استعمار کړلو وطن ته
ډېر مشکل شو هلته ژوند هم ترې وتنه

## عبد الولی خان ته

عبد الولی خان، مشر او لیډر دی
پښتون چې څه دی، ټول یو ټبر دی
سل مو دې ومري، یو مو دې نه مري
ځینو ته لاس او زمونږه سر دی

* * *

زمونږه خانه، په مونږه گرانه
صاحب د عزم او، لویه انسانه
که هر پښتون دې، د ملک ولي کړ
مشکلات واړه، به شي آسانه

* * *

قام خو مریض دی، مرض یی څه دی؟
مـرض د سـر دی، د ګیـډې نـه دی
سر یی د بـل دی، نور به یی څـه کړو
کـه سر یـې بنـه شـو، بـدن یې بنـه دی

* * *

کـولتـور و هـر قـام تـه لـکـه سـاه ده
هـو اقـتـصـاد یـې د ژونـد بـقـا ده
قـام دې ژوندی کـړه، سیـاسـت دانـه
لـه عـمـرو پـاتـې، دغـه خـلا ده

* * *

هر استعمار چې قومونه ګېر کړي
ټول خپل دودونه ورځنی هېر کړي
ذهن يې غلام کړي، که وي آزاد هم
هېر يې په هېراو ته‌ر يې په ته‌ر کړي

* * *

حسوده پرېږده، خوشې سودا ده
دا ړلی نه‌دی، دا پښتونخوا ده
بدي يې ماخله، دوستي يې ښه ده
دا نسخه تا ته، د مسيحا ده

* * *

گولی باران شوې، دربانديې د یر کښې
تاثیر یې پرېښود، زمونږ ضمیر کښې
د عشق د لارې، تر خه خواږه وي
انسان ته رسي، چې وی تقدیر کښې

## واکوالي

واکوالي هر رنګ، هر شان کېدای شي
واکوال فرعون او هامان کېدی شي
خو که لږ سم شي، د حق په لاره
سیوري د خدای او رحمان کېدی شي

## سم واکوال

داسې فارمول چې، حکومت سم شي
ورک له جهانه، ظلم او ستم شي
نشته تر اوسه په دنیا ګی کی
زورور کله په قانون تم شي

## واکوالي او قدرت

انسان لېواله، تل د قدرت دی
د استکبار او، د عظمت دی
په سل چالونو او نیرنګونو
قایل وځان ته، د خپل قوت دی

## د واکوالی اقسام

شخصي قوت لاړ، مشروطيت شو
مشروطيت ولاړ، جمهوريت شو
جمهوريت شو، تهولنپالنه
حکومت بياهم ،لا حکومت شو

## د شفيق حکومت

مدعا کار که ديموکراسي ده؟
مطلب ژوندون دی، که آزادي ده؟
د اګونګوسي و، نن کابينه کښي
څه کې فايده ده، څه کی بنادي ده؟

## د شفيق نظريه

توحيد بهتر دی، له افتراقه
ټولنه ښه ده له انفلاقه
پارلمان، حزب، دولت دې یو شي
کار به کاوه شي، بې له نفاقه

## د شفيق پر حکومت تبصره

يو ويل دا خو کمونستي ده
بل ويل نه دا بوروکراسي ده
حکومت هر رنګ، هر شان کيدای شي
خولې ماتې شوې دي، ازادي ده

## اوسنی فکر

د واکوالیه شکلونه ډېر دي
څه مې په یاد دي او څه مې هېر دي
خو دا نن عصر، د ملیت دی
د نورو چاروو ختونه تېر دی

***

ټول دولتونه، نن ملتپال دي
په هره بنه، که په هر حال دي
گټیه له بل نه، راوړي وځان ته
څوک فرد پرست دي، که ټولنپال دي

## داود خاني – جمهوریت

جمهوریت و، ارزو د خلکو
دا لوی نعمت و، ارزو د خلکو
افغان به اوس شي، سیال د قومونو
ملی نهضت و، ارزو د خلکو

## جمهوري حکومت

جمهوریت دی، اختیار د خلکو
چې په کښې نه وي، ازار د خلکو
چې خلک یې غواړي، هماغه کېږي
حکومت نه وي، بادار د خلکو

## د جمهوریت وظیفه

وطن خراب دی، جوړل غواړي
ملت وران شوی، روغول غواړي
دغه کانې کا، پردي لاسونه
پردي لاسونه، لنډول غواړي

## د جمهوریت ابتکار

دا یو ملت و، پردو ټوټې کړ
یو لوی کاروان و، غلو شوک په شوک کړ
همدا یو کار دی، چې کول غواړي
مرد به هغه وي، که چا یو سوک کړ

## افغانیزم

د قام لیدره، ابتکار وکړه
چې خلک یې غواړي، هغه کار وکړه
افغان یو کیږي، په افغانیزم
له چورتقلیده ځخه ډار وکړه

## د ځان واک

هر ځوک د خپل کور، خپله واکدار دی
د چا په کار کښې، د بل ځه کار دی
تیونپالنه، نوي رڼا ده
په خپل تعمیر کښې له چا ځه ډار دی

## جمهوریت او نړئ

تول ملتونه، تول دولتونه
هر یو خپل ځان ته، کوي کارونه
دوستی د هر چا، سره بنه کار دی
خو چې پیښ نه کا، مونږ ته خنډونه

## ملي هویت

ملی هویت مو، ساتل په کار دي
ځان پېژندنه، روزل پکار دي
څه به آخلو له نورو خلکو
دې کښې لږ غور او، څېړل پکار دي

## منځنی لار

دبلا کونو، تر منځ تلل بویه
لار په رسی ده، پرې ختل بویه
منځ ددې تولو، خپل ملیت دی
په دې مرام بنه، پوهېدل بویه

## ددنیا جوړښت

دنیا ده جوړه، له ملتونو
ملت جوړېږي، په خپل شرطونو
چې ملت نه وي، جوړ زما زویه
سودا عبث ده، د مسلکونو

## د ملیت شرطونه

د ملـيـت دي، اتـه شـرطـونـه
قـام،وطـن، ژبـه، خپـل عـادتـونـه
دين، حكومت او تاريخ ثروت دى
جوړ دي پـه دغـو، ټـول مـلـتـونـه

## ملي اقتصاد

اتـه شـرطـونـه، مـقـومـات دي
همدا ، كـولـتـور او، معنويات دي
ملت چې ټينگ شي، اقتصاد سم شي
چې تشكيل سست وي، ډېر مشكلات دي

## ملي کولتور او اقتصاد

کولتور يې ساده، ثروت غذا ده
عصر منلي، دا نن صبا ده
ملت په دغه، دوه توکه ژوندکا
يوه ماده ده، بله معنی ده

## افغان ملت

ملت جوړ نه دی، ملت جوړ نه دی
که چېرې جوړ شي، دومره ووړ نه دی
کورد او بلوڅ او پښتانه يو دی
دا مضمون نوی، دی لا زوړ نه دی

## څلور کتابه

خادم راوړي څلور کتابه
په پښتو ژبه له لوړ جنابه
څلور اندامه د یو وجود دي
خپلواک پښتون شو، جوړ په څوبابه

## خپلواک پښتون او ټولنپالنه

نوی ژوندون دی، نوې رڼا ده
په نوې لار کې، د ژوند بقا ده
خپلواک پښتون ته، چې پرې رسېږو
ټولنپالنه، مو مدعا ده

## همت

چې سړی تنګ شي، په زړه يې زنګ شي
ژوند ورته واړه، د وينو رنګ شي
همت پکار دی چې غم مغلوب کا
که داسې نه کا، سړی بد رنګ شي

## نجات

نجات د فرد دی، که د ملت دی
علم، تقوی او کار او خدمت دی
چې ټينګ ايمان شي درته په زړه کې
دغه قوت دی، دا سعادت دی

## سړی

علـم، پوهـنـه، تـقـوی ژغـورنـه
کـار ښه عـمل دی، خـدمت روزنـه
سـړی د ځـان وي، هـم د وگـړيـو
لـکـه دهـقـان چـې کـوی کـرنـه

## خدمت

عـلـم حـاصـل کـړه، دا کـار اول دی
خو فضول نه شي، دا د ژوند چل دی
د عـلـم لـه مـخـې چې کـار اغـاز کـړي
دغـه خـدمـت دی، دغـه عـمـل دی

## پښتو ته لغتې ورکول

اوس هر چا زده کړه د لوړتیا چاره
ولوړ مقام ته د ختو لاره
یو څو لغتې پښتو ته ورکړه
چار به دې ښه شي بې له څه زیاره

## له پښتو انحراف

نه به پوهاند شي، نه به وزیر شي
نه به لیډر شي، نه به امیر شي
څوچې له خپلې، پښتو وانوړي
پښتون که هر څو په علم میر شي

## قیامت

نن په پښتون او پښتو قیامت دی
وخت د ذلت او، د حقارت دی
له استعماره، دا حکم شوی
پښتون جاهل دی، پښتو بدعت دی

## امتحان

نوبت راغلی، د امتحان دی
نن په افغان او، افغانستان دی
بی پښتو کله، ور ته تېنګېږي
نن به معلوم شي، چې څوک افغان دی

## استعمار او د پښتون دښمني

استعمار غواړي، چې پښتون مړ شي
له ځمکې ورک شي په خاورو خړ شي
دا کار د ژبې، په مرګ کېدی شي
چې پښتو مړه شوه، دښمن به وړ شي

## ورور

چې څوک پښتون وي، هغه مو ورور دی
چې پښتو وايي، هلته مو کور دی
بې له پښتونه، نورې خبرې
قام ته مو مرګ او، مونږ ته پېغور دی

## د استعمار وسله شراب

گناه یی زیاته ده له فایدې نه
سړی بې لارې کا، له جادې نه
عزم، سنجش او، اراده اخلي
توبه ای قومه، له دې مادې نه

## بد عملونه

دښمن چې غواړي، یو قام محصور کا
چې څه یې زړه وي، پرې ئې مجبور کا
چرس او اپین او، شراب ور سر کا
استعمار دغه، کاني ضرور کا

## د استعمار وسیله

استعمار اخلي، غیرت له خلکو
غواړي چې نه وي، قدرت د خلکو
خو دي چې اخلي، فحش او شراب دي
دا نشه بیا یسي، همت له خلکو

## فحش او شراب

مشرق ته نوي، فحش او شراب دي
قومونه وړي، دغه سیلاب دي
مغرب لاهو ؤ، لکه خسنی
د شرق قومونه، اوس په عذاب دی

# ژبه او کلتور

## د پردۍ ژبې ثمره

څومره پښغور دی، او څومره سپکه
خلک دعوې کا، زمونږ په ځمکه
د بــل د ژبــې ســره د اشــتــه دی؟
افـغـان دی خپـلـه، پرې فکـر وکـا

## ودیده قامونه او ژبه

مــونږ ویـده وو، خلــک بیــدار وو
مـخکښې په فکر، ددغـه کار وو
ژبــه یــې راوړه، تــاریــخ یــې یــووړ
ددغــی ورځــې، پــه انــتــظــار وو

## پردی کلتور

چې ژبه بېله ، کولتور بدل شي
قام او عزیز وي ، د نورو مل شي
غیرت یې لاړ شي ، خو دي یې مړه شي
سکني ورور وي ، خپل قام ته غل شي

## د افغان تاریخ

تاریخ زمونږه ، خلکو د ځان کړ
اریانانه ، یې جوړا یران کړ
دې تریجیدی ته په خندا گوری
زمانې دغه ، حال د افغان کړ

## وران ملت

وران ملت کله، شي مړيدلای
بې ژبې نشي، څوک يو کېدلای
چې څو يو نشی، ولوړ مرام ته
قامونه کله، شي رسيدلای

## ترقي

ترقي داده، چې يو ملت شي
له زړه او ژبې، نه يو وحدت شي
پلمې د نورو، شي پکښې شنډې
په ملي کار کښې ازاد دولت شي

## ارتقاء

ارتقاء داده، چې ژوندون ښه شي
ژوند هله ښه شي، چې قانون ښه شي
امن و امان وي، علم ازاد وي
په ګډوډۍ کښې دا کار په څه شي

## ژبنی استعمار

هر هغه قام چې، مستعمره شي
د پردو ژبه، پکښې خپره شي
حل به يې نه شي، پرابلمونه
که افلاطون يې هم په پره شي

## ملي وحدت

وحدت په قام کښې يو لوی نعمت دی
چې وحدت نه وي، د خدای لعنت دی
چې څه لوړتيا ده، په دې دنيا کښې
لومړی سبب يې، ملي وحدت دی

## د انحطاط سبب

د ملتونو، د غورځېدلو
د پرزېدلو، دور کېدلو
بې له نفاقه، بل سبب نشته
خو کار مشکل دی، د پوهېدلو

## بې لارې مشر

مشر، لیډر دی او که سر کار دی
چې ملت یو کا، دغه یې کار دی
خو کله خپله، دوی نفاق راوړي
دا لوی عذاب دی او لوی ازار دی

## مسلطه بلا

استثمار کله، له استعماروي
کله د خپل ملک، د کوم باداروي
چې مسلطه دغه بلا شي
ژوند په دنیا کښې په سره انګاروي

## بد رژيمونه

شاهي عذاب دی، ديكتاتوري هم
انارشي غم دی، بوروكراسي هم
د ملت مرگ ته، ښه وسيله ده
د غير له لاسه، سوسياليستي هم

## فاسده واكوالی

په هر عنوان كښې چې واكوالي وي
مدعا داده، چې واك ملي وي
چې بې ملته واكوال هر څوك وي
د خدای لعنت دی، خپل كه پردي وي

## بې سره ملت

ملت ، ملت شي ، چې سر پېدا کا
لاردنجات ته ، رهبر پېدا کا
چې سر يې نه وي ، بې شپانه مال دی
جاهل به څنګه ، هنر پيدا کا

## بې سره سر

که سر بې سرو ، ياد خپل سر شو
بېغم له خلکو ، په غم د زر شو
غضب د خدای دی ، په خلکو باندې
که چېرې داسې ، سړی ليډر شو

## بې سري

ملت بې سره، مال د قصاب دی
مشر بې سره، د خدای عذاب دی
چې بې سري شي، په ملک را ګډه
دغه محشر دی، خو بېحساب دی

## ملت بې سره کول

ملت بی سره، ساتل کیدی شي
چی سر هېڅ نه وي، دا هم کېدی شي
دیموکراسي، چې، په منځ کښې نه وي
واکوال چې غواړي، هغه کوی شي

## مړ ملت

چې پریس او حزب، د ملت نه وي
دا ملت مړ دی، نور چې هر څه وي
د مړو واک وي، د بل په لاس کښې
پری نه پوهېږي، بد او که ښه وي

## سپي او سړی

ځینې قام وژني، د ځان د پاره
ځینې ځان وژني، د قام د پاره
څوک په مېړانه ، سړیتوب ژوند کا
څوک کا سپیتانه ،د خان د پاره

## مغرض مشر

څوک چې ځان غواړي، قام خره غوايي کا
څوک يې رذيل کا، ورنه جوړ سپي کا
واک د غوايانو او خرو اسان دی
ځکه را تيټ يې، هوښيار سړی کا

## چلباز مشر

که قام را تيټ کړې، چې ته پرې بر شې
خلک ړانده کړې، چې ته رهبر شې
بې غمه نه شې، له انتقامه
زر به له حاله ځنې خبر شې

## ملي واکوال

ملی واکوال کار ، په نوم د قام کا
په لاس د قام خپل، عالی اقدام کا
دی افتخار کا ، په خپلو خلکو
لار ورته ببرته، د لوړ مرام کا

## ولې سپک شوو ؟

حکومت غواړو ، بې ملیته
ملیت غواړو، بې ثقافته
داده پوهنه ، زمونږ عالمه
ځکه مو تول شو ، دومره را ښکته

## قلم او کتاب

د قلم قدر، چې چېرته نشي
د انسان قدر، به هلته څه شي
چېرته مقهور چې، لیک او لیکوال وي
د خلکو حال به، یې څنګه بنه شي

## میزان

دنیا کښې تول دی، حساب کتاب دی
اعمال تا له شي، ثواب، عذاب دی
د ښو او بدو، میزان قلم دی
که قلم مات شي، عالم خراب دی

## د رکود سبب

چې فکر بد شو ، قلم مردود شو
عالم مغضوب شو ، قلم محسود شو
اوس راته گوره، چې حال مو څه شو
حرکت نشته، واړه رکود شو

## د استبداد راتگ

یون چې د فکر او ، د قلم ډب شي
استبداد را شي، قدرت بې ډب شي
بندونه واړه، اباسیند یوسي
وران چې د زور او ، د واک جلب شي

## د خبرو سر

دا سل خبرې، خو سر يې يو دی
دا سل ګړنګه، دا يو يې رو دی
بښکلا د ژوند ده، په قلم باندې
ژوند لکه ګل دی، سياهي يې نو دی

## افغاني عيب

قسم په لوح او، بيا په قلم خورم
افغانه ستا، د اعتلا غم خورم
قلم را پورته، کتاب کړه مچې
بل عيب دې نشته، اوس بيا قسم خورم

## آزاد قلم

نه به ئي آب وي، نه به ئې تاب وي
ودان به نشي، تل به خراب وي
د هغو خلکو، چې قلم بند وي
او نه يې ژبه، نه يې کتاب وي

## د قام ژبه

د قام په ژبه، هر يو رسول دی
خدای ته په دې کار، هر يو مقبول دی
د بل په ژبه، فخر په څه کړي
افغانه دا کار، دې ډېر فضول دی

## قام او قبيله

هر يو انسان چې، کوم ځای کښې زېږي
په قام قبيل خپل، پېژندل کېږي
ددې خدايي کار، چې دا حکمت دی
نفې او نهې، يې نه ښا يېږي

## د قام رسول

لسان قومه، مونږ ته ارشاد دی
رسول د قام دی، دا يې مراد دی
چې په اسلام کښې له قام منکر وي
پوه شوی نه دی، غريب برباد دی

## ځان خلاص کړه

اول مې ویلې، چې افغان خلاص کړه
اوس درته وایم، چې خپل ځان خلاص کړه
ما پرېږده خپلو، بدبختیو سره
ته دې د نورو نه، ګرېوان خلاص کړه

## بد نیتي

په څه سختیو، دی زنځیر جوړ کړ
چې ما به تل ساتي اسیر پکښې
د بدنیتی، دا نتیجه وي کنه
اوس ته پخپله شوې راګیر پکښې

## چل جوړول

چل جوړول، څه ډېر مشکل خو نه دي
دا موکول چې، دا مو حال شولو
افغان د شرم او پېغور سو
د عزت ژوند، ورته محال شولو

## اِستفاده

د رندو خلکو، واکوالي به څه وي
هو، د غه غوا لوشل کېدلی شي بنه
لېډر چې جوړ شي، د باداره سره
د قام بېړی، تباه کولی شي بنه

## د نړۍ دود دستور

په خوله د قام، اکثریت یادوي
خو د خپل قام، ژبه کولتور نه مني
زمونږ لیډر، ټولې نړۍ ته ګوري
خو د نړۍ دود و دستور نه مني

## مینه او وینه

غابښونه توی شول، ږیره شوه سپینه
بدن مې یخ شو، سړه شوه وینه
د عشق تنور لا، په غرغرو دی
انسان کالبوت دی، ساه یې ده مینه

## تاریخي حقایق

داردیـــــان، دادیــــک نــــه دي
او داد یــک تــا جــیــک نــه دي
دا دیـــــک پــــښـــتــــــان دي
او داردیـــان بــاخــتــریـــان دي

## کمبختي

خوار ژوندون

ښکلی دنیا ده، ښکلی ژوندون دی
خو ما کمبخت ته، ټول جګر خون دی
چی نظام وران شي، سړی کمبخت شي
دا طبیعت دی، خدایي قانون دی

## د قام د اعتبار بدله

سر دی د ننه کړه خپل ګریوان ته
رجوع دې وکړه، و خپل وجدان ته
قام په تا څومره، اعتبار وکړ
او تا څه وکړه، قام د افغان ته؟

## پښتون لیډر ته

اول دې ومانه، قانون لیډره
بیا دې ورتېل واهه، پښتون لیډره
پښتو دې پرېښوده، بوټو د پاره
اوس راته څه کوې، لمسون لیډره

## مات سیاست

لیډر چې مات شي، استعفا به کوي
نه چې په ماته خوله، دعوی به کوي
مات سیاست، پټری کېدلی نشي
چې دا کوي، خوشې سودا به کوي

## زندئ تنګه شوه

ستا سیاست، ایله همدومره وکړه
د ډیورنډ مړه کرښه، ژوندی کړله تا
پښتون مضبوط، په ثقافت خو نشو
مګر را تنګه پرې ژندی کړله تا

## له څاروانه

### نوې ترقي

ترقي شوه چې زلمی صاحب دفنَ شو
بېفکري پخپله فکر د وطن شو
د مسکو د چانس د پاره کمونست و
ديموکرات شو چې يې وارد واشنگټن شو

### هوښيار او حکيم

فکر د ځان کوه، وطن څه کوې
يوه حکيم ته، بل هوښيار وويل
لويي په کار او، په لوی فکر کښې ده
دغه حکيم ورته، په جار وويل

## کار او ژوند

کار کوه، کار کوه، چې کار ژوندون دی
هغه چې کار نه کوي، ژوند یې زبون دی
کار وظیفه ده، له حرصه پاکه
چې هېر دې نشي، عالي مضمون دی

## ځوان او قوم

ځوان د قوم سرمایه ده
های افسوس که شي راکده
لا بتره به تري دا وي
چې راکده شي، فاسده

## قام او اخلاق

قـوم نوم دی د اخـلاقـو، چـې افـرادو کـښې شـریـک وي
څه کـه وینـه یې د فـرانس وي، په اخلاقـو چې شریک وي
چـې د بـل پـه لاړو لـونـد شـي، ایـزنـهـاور شـي جـرمن تـه
یا بـهرام د خوشحـال زوی شي، بد نـامي پرېږدي وطـن تـه

## انګریز او پښتون

چې انـګریز پـه جهـان وي، پـښتـون بـه نـه وی
تـښتـښـبدلـی دا بـنـده دی لـه سـر کـاره
پرې یې بندی تولې لاری د ژوندون کړې
په هر خوا چې درومي، نـښته چېرې لاره

## پس له مرگه

پس لـه مرگـي مې يو ځل سرکړی اوچت
گـونـدی پـښتـون چـېرې مـوږ شـوی وي تـول
ځـو مـره بـه ښـکـلـي د وطـن وي فـضـا
چې پـه پـښتـو سـره جـوړ شـوی وي تـول

## وطن ته

اه ، پـه خدمـت دې بـريـالـی نـشـومـه
وطـنـه ځـكـه ، چـې سـړی نـشـومـه
بـاران د اوښـكـو بـه پـه شـاړو كـوم
بـاغـوان بـه شـم ، كـه تـوريـالـی نـشـومـه

## هسکوالی

شان د پښتو چې هسکولی نشي
په اورو تیتې سر، گرځولی نشي
بې له پښتو، نه دژوندون څه مزه
خادم په دغې پوهېدلی نه شي

## صنعت او تجارت

په صنعتې دنیا کښې زیاته نه ده
که تصنع پکی څه زیاته شی هم
تاجر له بنایي چې دې گټه وکا
که د ربتیا خونه میراته شي هم

## تجـــدد

یو جنټلمین ویـل، مسجد تـه مه ځه
بـل راتــه وویــل، حـجـره څـه کــوي
مـا د مــېـلـمـه ورتـه خـبـرې وکړې
ده راتــه وویـل، مــېـلـمـه څـه کـوي؟

## غټوالی

ځان خو دې غټ کړو، خو لږ پام دې اوسه
دا خـلـک غـټـو، تـه پـه غـټـو گـوري
خوږ خـوله کـانو څـخه ډک دی، مـگـر
خلک (سیری) منځکښې د گټو گوري

## پردی رنګ

ځان ته خپل تیاتر جوړ کړه
د پردی سینما څه کړې
په پردي رنګ کښې رنګ نشي
که د قامه سره بښه کړې
پردی رنګ سړی بد رنګ کا
که لږ فکر باندی وکړې

## د قامه سره مینه

بې تاثیره چې تری څوک خلاصېدی نشی
یوه ژبه ،بل مکتب بل سینما ده
که پردي وي، په پردي رنګ کښې راغلي
دا څیزونه د یو قام په ځان بلا ده
خپل لباس او خپل اساس درته پکار دی
که دې مینه د خپل قام سره رشتیا ده

# خپل آس

درته نه وایم چې خپل خره باندې تېينگ شه
ترې راکوز شه خو په خپل اس باندې سپور شه
پردی کټ د نیمې شپې دی که پوهېږې
تـه خاوند د خپلې مېنې او د کور شـه

# لتهون

د مشر كشر دليدو د پاره
د صحبتونو او ربدو د پاره
زه په سودا ومه چې چېرته ولاړ شم
په مخكښې ولاړ شمه، كه بېرته ولاړ شم
يوه زلمى راته هوټل وښودو
بل د كلوب راته درشل وښودو
هلته يو زوړ و د راديو څنګه نه وو
دلته شطرنج و، د ليدو څنګه نه وو
ماويل چيرته ده - حجرې ته ځمه
يا د مسجد خوا كې دېرې ته ځمه

# حجره

ستا په لمن کښې همتونه شوو لوی
واړه واړه غوندې سرونه شوو لوی
ته وی زانګو د غیرت طفل لره
دلته د قام کوچنې خویونه شوو لوی
پښتو له تانه هم خفه ده ګوره
چې تاکې نوي فسادونه شوو لوی
کتاب را تپول شو، د پښتو د قصو
حجرې! دچرسو چلمونه شوو لوی

## درواغجن

که اته واړه جنته يې په لاس وي
په بل لاس يې د مصري توري هراس وي
درواغجن وته ريشتين ويلی نشم
سپين ته تور او تور ته سپين ويلی نشم

## د ميني ليونی

چې په ردو ستر ګو قام ته خيانت کا
نو خادم به يې په ډاګه مذمت کا
هر مين د خپلې مينې ليونی دی
څوک په خاوره او څوک مينه په دولت کا

## د پښتنو مشر

خلک مشري کوي عزت غواړي
زمونږ چې مشر شي، دولت غواړي
ای چې سودا ده، د مشرۍ در سره
قام دی له تا ځنې، خدمت غواړي

## د خدمت شرط

د قام خدمت اسانه کار نه دی
دا د الفاظو تش شعار نه دی
قام دې دفتر د سوانحو لولي
دا فکر مکړه چې هوښیار نه دی

## ښه پوهیږم

زه ښه پوهیږم څورولی مې شې
له تیتېو خلکو تیتېولی مې شې
رقیبه دا هم راته ووایه چې
دعشق له لارې اړولی مې شې

## د پښتو ایمان

رقیبه داچې تعصب یې بولې
دغه ایمان دی، د پښتو په ژبه
زه له ایمانه تیریدلی نه شم
چه ځان ښکاره کړم، د پردو په ژبه

## د قا م تباهی

چې هلاک د کوم يو قوم څه وخت راشي
د دولت او قوت خلک يې ګمراه شي
د ګناه فسق و فجور شرم ترې ورک شي
نو د دوی په شاميت ټول قوم تباه شي

## د ليډر پېژندنه

بې له عقله، بې له علمه ، بې منطقه
هيڅ يو کس د چا رهبر نه شي کېدلای
بې جراته، بې خدمته ، بې اخلاصه
بې همت سړی ليډر نشي کېدلای

## بلا وهلی پښتانه

هر څوک په ځان پسې جهان پېژني
په ژوندانه کې سودا و زیان پېژني
دا څه بلا شوه په پښتون نازله
چې نه خپل ځان او نه جهان پېژني

## د عالمو د خندا شوم

چې په وزرور باندې ژړل مې
اوس پښپښلنه د ژړا شوم
راشې و ګورئ ومانته
د عالمو د خندا شوم

## مرگیه

مرگیه خوښ یمه لتا چې خاطرې هېرې وي
د زړه خوږونکو ارزوګانو سلسلې هېرې وي
ته چې مېلمه شې مشکلات له سرې کډه کوي
خوږې، ترخې، تللي، راتلونکې مرحلې هېرې وي

## شاعر او دولتمن

زما و فکر ته فکر کښې دی
وایي دا شعرو، ذکرو فکر نو څه
زه هم وده وته هېښ پاتې یمه
وایم چې مال و جاه و بکر نو څه

## د ازادی او خدمت خوند

ده خود تیږو مانی جوړه کړله
ځان یې محکوم خپله په بند کړلو
خو دې ساده زړګي مې ماته په یاد :
د ازادۍ او خدمت خوند کړلو

## د مالدار فضیلت

دی آزادۍ ته حماقت وایي
چال او فریب ته لیاقت وایي
ده وته فضل و هنر توکې ایسي
مال و چوکۍ ته فضیلت وایي

## دولتمن او خدمت

ما د خدمت ورته تقریر وکړلو
دی په بریتونو کې مسکی غوندې شو
چې خپل موټر او خپل چاکرته شو ځیر
خدا یېږو بیا ماته لېږ چرگی غوندې شو

## ملي انقلاب

سل ځلې تېر شو عسکري انقلاب
اوس دی راغلی کولتوري انقلاب
د پښتونخوا په بد قسمته ځمکه
چېرې ونه شولو ملي انقلاب

## پښتني انقلاب

څله ناکام شي هر ملي انقلاب؟
همېش په تاکوی پردي انقلاب
پښتونه ، ويښ شه د فطرت په اواز
چې درنه غواړی پښتني انقلاب

## ملي شباب

چې په ژوندون کې انقلاب نه وي
د نهضتونو پېچ و تاب نه وي
ژوندي يې مه بوله په مړو دی حساب
په کوم ملت کې چې شباب نه وي

## پردی بدلون

اغیار پرسته ،ای خود کش پښتونه
دا باسین او هندوکش پښتونه
څومره بدلون در کښې پردو را وستی
خالی کالبوته له ساه تش پښتونه

## نوې رڼا

ځان کړه خبر له هر حساب څخه
نوې رڼا نوې کتاب څخه
علم و هنر دې بېهوده ګڼمه
که وي خالي له انقلابه څخه

## د انقلاب خبری

دیرې مو وکړې د کتاب خبرې
لږې به واورو د حساب خبرې
څه زما او نه د تا غونډې وې
چې څوک کوي د انقلاب خبرې

## د کتاب خبری

چې تحول په ځان کښې نشي کړلای
د انقلاب خبرې څله کوي؟
چې اجتهاد يې په فطرت کښې نه وي
تش د کتاب خبرې څله کوي؟

## اووښتی

مونږ ته تقریر د انقلاب کوي
په ده پخپله انقلاب شوی
کلک دي ترلي د تقلید په رسی
غافل د ځان له احتساب شوی

## د پښتو سترګو دعوې

څوک چې ځان نه پېژني څه غواړي
په پښتو سترګو بد، که ښه غواړي
مخ دې ملت پلو ته وګرځوي
که دا نه کېږي نور دې نه غواړي

## د افغان بدلون

که څوک مې مړ کړي مړ کولای مې شي
خو پښتون نخوا څوک ورکولای نشي
زه به له قبره دا نعره وکړمه
چې پښتون قام دی، بدلېدلای نشي

## د عمر شپې

ډېرې شپې د عمر تېرې شوې تېرېږي
په تېر عمر مې زړګوټی تل څورېږي
ما د قام خدمت ونکړ های افسوس دی
په هغه نبوغ چې خاورې ایرې کېږي

## حکومت او زه

حکومت زه د مرغۍ غوندې بندي کړم
خو پخپله دی، بندي د بل په لاس دی
یو بندي بل بندي څنګه خلاصوی شي
ای افغانه دا کلام مې په اخلاص دی

## خوار افغان

زه افغان یمه افغان، یعني پښتون یم
د جفا د زمانې، نه جګر خون یم
قافلې د ملتونو لاړې ورانې
زه لا پاتې په خپل ځای خوار و زبون یم

# اولاد ته

که پښتو پښتون مو پرېښودو ځوځاده
په قیامت به زما لاس ستاسو گرېوان وي
مونږ ته پاتې له نیکونو نه جهاد دی
تل قومونه په جهاد باندې ودان دي

***

کورنی دې د خادم، خدمت شعار کړي
په مفاد د ټول افغان دې هر یو کار کړي
له زحمت او له تکلیفه دې ډار نه شي
هر عمل دې په اخلاص او په ایثار کړي

## د پښتنو اصل و نسب

پښتون په اصل کې ټول غلجي دی
له غره پیدا دی، دغه یې څې دی
د (پښت) له پښته را ټوکېدلای
که څوک سهاک، دی او که کاسي دی

## محشر

ناکرار زړه مې انقلاب غواړي
نوی رڼا نوی کتاب غواړي
د استعمار دنیا چې ګډه کماندې
داسې محشر داسې حساب غواړي

## بی پښتونه جهان

بې له پښتونه جهان دې نه وي
دا خېړه ځمکه، اسمان دې نه وي
چې پکښې خوار وی دا ساهو قوم
هسې زمان او مکان دې نه وي

## خادم وايي

نه ډالر لرم، نه پونډ او نه کلدارې
پښتون ومه، پښتون يمه او پښتون مرم
دا ارمان، دا اراده، دا مې عمل دی
په خپل هوډ مرم، نه د خلکو په لمسون مرم

# کابل او پښتو

چې پښتو نه لري افغان به څه وي؟
لا بې غيرته مسلمان به څه وي؟
ځکه مين زه په پښتو شوله
چې خودي نه لري انسان به څه وي؟

***

يون دې کابله وکوم لور ته دی ؟
دا څه کانې دي، چې په تاوشولې؟
چې پښتو عامه شوه تا سسته کړله
دادی اجبار که په صلا وشولې؟

***

کابـلـه زړه د کـوم هـیـواد یـې تـه
د چـا لـه فـیـضـه نـه ابـاد یـې تـه
لږ خو دې ځان او بـیـا پښتون وگوره
دا چـا ازاد کـړې ، کـه ازاد یـې تـه؟

***

تـه خـو پښتـون وتـه افـغـان وایـې
پښتـو تـه، هـم تـه افـغـانـی وایـې
چې ځان افغان کړې، ما پښتون وگڼې
بـیـا د پښتـو پـه ځای فـارسـي وایـي

***

پښتو ددې هیواد ملي ژبه ده
لا ور سره هم بیا رسمي ژبه ده
مخالفت د پښتو نه دی روا
چې دا ددې خاورې بومي ژبه ده

***

بېل دی پښتون او افغان ولې کړلو؟
ځان ته حیران دې، جهان ولې کړلو؟
دواړه یو شی دی، حقیقت دغه دی
دا حقیقت دې بل شان ولې کړلو؟

***

که څوک افغان وي، نو پښتون به وي هم
چې پښتون نه وي، نو افغان په څه شو؟
لکه جرمن او د المان لفظونه
چې څوک جرمن نه وي، المان په څه شو؟

***

کله دی وخوړو په زور کابله
اوس رانه شوکه کړې په شور کابله
د تعصب او د فاشست په چغو
ځان دې کړو سپین او مونږ دې تور کابله

***

بس دی کابله ضدیت مه کوه
د پښتنو مخالفت مه کوه
ونیم نه زیات درکې پښتون دی اباد
د حق سره مقاومت مه کوه

***

ای د افغانستان افغانه وروره
ای غیرتي ای مسلمانه وروره
ملی وحدت بې پښتو نشی راتلای
زما د ښکلي هېواد ګرانه وروره

***

قومونو خپل پرابلمونه کړه حل
دنیا یې خپله کړه په علم وعمل
پښتو خوستن ده دوحدت دبنا
وهل یې نه بنا یي په زور او په چل

***

اعلان مو دادی، بل اعلان نشته
په پښتو ژبه کښې تاوان نشته
چې یې مرکز په ملي ژبه نه وي
داسې ملت په ټول جهان نشته

# تولنيز اعلان

چې وطن ، ژبه ، ملت در ځخه لاړ شي
نو به څه شي درته پاتې شي افغانه
خلک په ژبه را ټولیږي په وطن کښې
بیا په دوی شي د ملت خونه ودانه

***

اقتصاد که ملیت که حکومت دی
دغه ټول دي ټولنیز ، ټولنه غواړي
چې ټولنه جوړه نشي سمه نشي
څوک څه د نیکبختۍ راتلنه غواړي

## سعادت

په څلور څيزه کښې سعادت دی
علم، تقوی او کار او خدمت دی
حرص دې کم کړه خودخواهي پرېږده
کار او عمل کړه، څو دی طاقت دی

## حاضر عصر

دا عصر څه دی، د ملیت دی
فرد نن وتلی له فردیت دی
ایدیال، حزب، پالیسی غواړی
تکمیل په دغو د شخصیت دی

## افغاني سیاست

سیاست چاته تابع د ثقافت دی
او څوک وايي چې نه مخکی سیاست دی
څوک په غم د اقتصاد دی، بی تمهیده
څوک لا وايي چې دا ښه وخت د غارت دی
افغانان په یوه خوله یو فکر نه دي
اجنبیانو ته دا ښه وخت او فرصت دی

## زما زړه

خوشحالی تري کېږه وکړه واړه درد شو
دا د شعر او د ادب وروستی ثمر دی
د قام غم به په لعلونو بدل نکړم
رشتیا داده چې اوس زړه زما د مرد شو

## د خلکو مينه

چې د بل د غم په اوښکو تازه نه وي
داسې سترګی دی بينا مه وای ړندې وای
ناخبر چې د تودو اوښکو له خوند وي
ددې خلکو خولې د مرګ په سوک کږې وای

## د تکليفونو دنيا

څه په کاروه دا دنيا د تکليفونو
د دردونو، مصائبو، عذابونو
نادانان لا خوشحالي ور پکې غواړي
همدغه زمونږ سبب دی د دردونو

## مذهب او قام

مذاهب لکه سیلاب دی، قام دی ځمکه
که زما قوم «پښتون» پرې فکر وکا
ښیرازي د ځمکې بویه له سیلابه
نه چې ځمکه سیلاب یوسي له مالکه

## شرع او لار

که مذهب دی که مسلک که طریقه ده
تعبیرات دی مختلف معنی یوه ده
د ژوندون دا ورکه لاره چې سرک شي
دغه لویه لار هم شرع هم جاده ده

## نیم سوسیالیست

ماته یې وې چې ته خو هم نیم سوسیالیست یې
ما وې هر څه مې چې پوهې خو افغان یم
بل ویل د خود فروشو فکر بویه
ده ویل زه هم و دغو ته حیران یم

## استعمار او پښتون

استعمار هر قام ژوندی کړ پس له مرګه
خو پښتون کمبخت یې مړ کړ ترابده
هیڅ شریان د قومي ژوند یې نه خوځیږي
په دې لاش باندې اخته دی تول په ګیډه

# د پښتو تاریخ

اوس به پوه شوم د پښتون تاریخ ورکېږي
ای پښتونه ستا په حال مې زړه خوږېږي
دښمنانو درته خپل هم دښمنان کړل
لا به څنګه په دې کار څوک نه پوهېږي

***

دوراني نظم د پښتون کار دی
لکه د زانو جوړ یو قطار دی
ټولواکي نشته، دیکتاتوري هم
صلاح او پوهې ته اعتبار دی

## افغانی مسلکونه

که وینې زلمی و، که پښتون مسلمان
افغان ملت و، که افغان ولس
ورځنې جوړ شو تولنپال افغان
پرې شو بيداره او روښان ولس

## پښتنی نهضتونه

پښتيانا ته خپلواکي وه پکار
د پښتنوالي، واکوالي وه پکار
ځکه د ژوند لاره رڼا موکړله
تولنپالنه کې سيالي وه پکار

## تګمار

چې پښتون قربانوي له خپل شهرته !
قام، وطن، ژبه ، کولتور وهي په لته
په تقرير يې مه غوليږئ چې تګمار دی
که هر څو درته ګرېږي له ملته

## خام سړی

چې ليډر مين په ځان، منکر له قام شي
په نظر يې هر ساوو لکه غلام شي
دا لا بله طريقه د باداری ده
پوخ به نشي هر سړی، چې داسې خام شي

## ښادی

ادب او عــلــم چـــې وي بـــېـــکـــاره
تقـــوې او پوهـه چه وي ، نـاکـــــاره
داسې مـحـيـط کښې به څه ښادي وي
چې خـلـک يـې خـوار وي او بـزه گـاره

## رښتني باختری

روغ اندام ښـکـلی صـورت ، قـوی بدن
دا وصيت دی دا سـتـوځی سپـيـنـتمـن!
چـــی رښـا او ودانـی د پـــاره کـــار کـــا
پـه رشـتـيـا دی بـاخـتـري او آريـن

## د لیډر تخت

لیډر چې تیښتې شي جګېدلی نشي
مات سیاست پترې کېدلی نشي
تخت د لیډر دی، د ملت پر اوږو
چې څوک ترې ولوېږي ختلی نشي

## که مشری غواړی

انسان محتاج دی، حاجت روا غواړي
همېش ناروغ دی، ځان ته دوا غواړي
که مشري غواړي، د رنځ دوا شه
خلک نېکبختی ته، خپل رهنما غواړي

## ماکیاولیزم

د وخت وبا ده، ماکیاولیزم
توره بلا ده، ماکیاولیزم
مشري و قام ته پیغمبري ده
لویه اغوا ده، ماکیاولیزم

## ماکیاولست

چې وایي یو څه، عمل بل څه کا
په سمه لار باندې، هم تله نه کا
پرې خطا نوځې ماکیاولست دی
په دروغو درېو، خطا ایسته کا

## افغانيزم

وران دي په دنيا کې باد اريزم وي
وي په نوم د ايزم او که بې ايزم وي
مونږ دنيا کښې ظلم او ستم نه منو
کلی دې ودان د افغانيزم وي

## زوړ شوم

زوړ شوم خو ځوانې ولولې لرمه
زړه کښې طوفان او زلزلې لرمه
دا زوړ افغان ملت چې ځوان ووينم
دغه ارمان او دا هيلې لرمه

# د پیغامبر لار

چې لار وروکړو ته لار پیدا کا
تپه تیاره وی، دی یې رڼا کا
همدغه لاره د پیغامبر ده
په خپل ایمان یې چې بیا صفا کا

***

چې په ایمان یې خپله ایمان وي
د عرش سرې وي لکه انسان وي
خدای را الیږلی وي نیکبختی ته
ملت وده ته له ځانه ګران وي

## سویس جوړېږي

د اسمان ستوري او غاړې غرونه
ژاړي په حال مې دا لوی سیندونه
سویس جوړېږي له لوی افغانه
استعمار کړی دا تدبیرونه

## وژنې مو

قومیت، ژبه، پښتو مو وژني
د خپل په لاس او پردو مو وژني
د ژړا ځای او د عرض مو نشته
عالمه ګوري ورو،ورو مو وژني

## د شیطان لار

ماکیاولېزم لار د شیطان ده
چې حاوي شوې، په ټول انسان ده
زور او فریب چې، سره یو ځای شي
پناه و ذات ته د لوی سبحان ده

## د افغان گمراهي

جهان تباه کړ، ماکیاولېزم
عالم گمراه کړ، ماکیاولېزم
ادم یې وایستو له جنته
افغان بد راه کړ، ماکیاولېزم

## بې اعتمادي

چې اخلاص نه وي، دروغ او فساد وي
جامعه کې له هر تضاد وي
ډاډ او سکون به څنګه حاصل شي
ولس چې واړه بې اعتماد وي

## د قيامت ورځ

چې ناباوره خلک واکوال وي
واکوال په فکر، د نوي چال وي
همدا قيامت دی، که څوک پوهېږي
نفسي نفسي چې د هر چا قال وي

## ملت د خطر په حيث

واکوال په خلکو چې ناباور شی
ملت ورده ته يو، لوی خطر شی
مامورين پرېږدي وارتشا ته
بوروکرا تېزم ترې را بهر شی

## واکوالی د چا حق دی؟

واکوالي حق دی، مگر د خلکو
خپل حکومت دی، سنگر د خلکو
بوروکراسی کې قدرت بلا ده
نازله شوې په سر د خلکو

## وران حکومتونه

استبداد غم دی، بوروکراسي هم
خدعه او چم دی، دیموکراسي هم
د ورانې لار ده، نیمه سپیڅلې!
ظلم او ستم دی، سوسیالیستي هم

## انتهایي تباهي

خلک په امید وو، حزب او لیډر ته
عقل یې اوس راغی، لږ شانې سر ته
وران حکومت چې، هر څه تباه کا
بیا خلک اړ دي و پیغمبر ته

## تقدس شته

تقدس شته دی خلکو باور کړئ
له ابلیسانو، نه تل حذر کړئ
چې خیر د خلکو، پکښې مضمر وي
په دغه لار یون، د پیغمبر کړئ

## مقدسات څه شی دی

مقدسات ټول صوله صلا ده
لار د بقا او د ارتقا ده
انسان پر ېمنځي، له خبایثو
نورانیت او، وا ړه ښکلا ده

## د پښتون مآل

ماکیاولیست چې لیډر ، واکوال شي
ژوند و ملت ته واړه وبال شي
الهی خیر کړی قام د پښتون ته
پری نه پوهیږو څه به یې مآل شي؟

## ملي هویت

هویت پیدا کړه که ته افغان یې
جرات پیدا کړه، که مسلمان یې
لږ ملتفت شه ځان او جهان ته
په دې جهان کښې ته بل جهان یې

## نوی دوران

دا جهان جوړ کړه، جهان به جوړ شي
په سر د ځمکې اسمان به جوړ شي
ما اور بل کړی، یو یی سه کورته
نوی تهذیب او دوران به جوړ شي

## سرېتوب

ټول مذهبونه او مسلکونه
د سرېتوب کا، مونږ ته ښوونه
خو د غه طفل، چې نابغه شو
بخدی ادې یې وکړه روزنه

## فرقونه

سړیتوب څه دی، انسانیت دی
د انسانانو، غوره خصلت دی
که د زمان او مکان فرق نه وي
ټول یو انسان، دی یو یې خصلت دی

## هڅوب

سړی، سړی شي، چې سړیتوب کا
ژوند په غیرت او په ساوتوب کا
که داسې نه کا، نو بیا یې خوښه
هر څه کوي شي، نه چې هڅوب کا

## تهذیب

تهذیب کولتور او تمدن بویه
سړی، سړی شي له خپله خویه
همدا هڅوب دی، په پښتو ژبه
چې پری یې نږدې ښاغلیه زویه

## تمدن

تمدن کله د ښار کوڅې دي
ساز او سامان او مال او پیسې دي
ښاغلی روح او سپېڅلې چارې
په دې دوه توکه د ژوند نقشې دي

## بډای

سړی هر څوک دی، که د هر ځای وي
هغه غریب وي، او که بډای وي
د قدر وړ دی، خو ګرانه داده
چې لوی سړی دې، چېری بډای وي

## دولت

دولت بد نه دی، که لاره ښه وی
چې نه وي خامه او نه کچه وی
که څوک وررسي، پرې و دولت ته
دا به نادره ښه واقعه وی

## ملتونه

فرق د زمان او بیا د مکان دی
دلته دی روس او هلته جاپان دی
شرق دی که غرب دی، دواړه د خدای دی
هلته انگلیس او دلته افغان دی

## فساد

چې روح فاسد شي عمل خراب شي
ژوند شي ببخونده واړه عذاب شي
لکه لېوان خوري یو د بل غوښې
کتاب په لاس کښې خلک بې کتاب شي

## کاږه کارونه

که روح او چاری سپېڅلې نه وي
که هر څه ډېر وي، بنادي به څه وي
چې ادمزاده په خوی شیطان شي
کارونه کېږي واړه کاږه وي

## شیطانی تمدن

پناه په خدای ده، له شیطانانو
له ابلیسانو، له مکارانو
لا چې واکداره، د تمدن شي
تېښته او ډار دی، له مفسدانو

## لعنت

چې مینه لاړه شي، خواخوږي هم
زړه سوی معدوم شي، کومک خپلوي هم
څه به په ژوند کې مزه شي پاته
چال خو لعنت دی او پالیسي هم

## تیته مینه

مینه چې تیته او زمینی شوه
خوشحالي والوته، اسماني شوه
دنیا شوه ډکه له پستو نو
خو خلک وايي، چې انساني شوه

## بد حكومت

تولې خبرې، د حكومت دي
كه د عزت دي، كه د ذلت دي
كه ښه و ، ښه دي، واړه كارونه
كه بد شو نښې، بيا د قيامت دي

## د زور حكومت

حكومت هر څه، كه د هر چا وي
د كوم مړيي وي، كه د آغا وي
چې په مرضا د خپل ملت نه وي
د خپلو خلكو، په ځان بلا وي

## زمونږ جهان

جهان د علم او د سیاست دی
د ناپوهانو برخه ذلت دی
حکومتونه، واړه ملي شول
چې چېرې نشو، هلته قیامت دی

## عصري مسلک

حکومت ښایي، د سړیتوب وي
ژوند په همت او په ښاغلتوب وي
ماکیاولېزم یو ده بلا ده
د مېړنیانو خوی دې هڅوبه وي

## سوېدن

امن او نشاط دی، په سوېدن کښې
د بلبلانو په دې چمن کښې
چې واکوالې يې د سرېتوب ده
ګروم چاته نشته په دې وطن کښې

## ټول جهان

کاشکې جهان ټول، يو سوېدن وای
د خاد مانو پکې مسکن وای
ولږه او وېره، په منځکې نه وای
فکر د امن د خپل وطن وای

## سمه لار

نومونه ډېر دي، خو لار يوه ده
چې هم ده سمه او هم پخه ده
ناسيونالېزم حاوي مسلک دی
بې له دی هره لاره کږه ده

## ناسيونالېزم

خير د ملت او د وطن غواړه
کلک يې کولتور او ماده کړه دواړه
ناسيونالېزم خو بل څه نه دی
ژوند کړه د نيا کښې په لکه غاړه

## د ملیت دنیا

روس دی که چین او که امریکا ده
فرانس، انګریز او که افریقا ده
هر څوک په غم کښې د خپل ملت دی
مراد د هر یو خپله بقا ده

## د بقا ورړ

په دې دنیا کې دا یو قانون دی
خبرې ډیرې خو یو مضمون دی
قوت د وام کا، ضعیفان درومي
چې څوک قوي وي، هغه مصون دی

## د فرد قوت

د فرد قوت دی په خپل ملت کښې
د ملت ژوند دی، په حرکت کښې
چې ډیر قومونه، لکه یو فرد کا
دا خاصیت دی، په ثقافت کښې

## لوی سعادت

بیا درته وایم، جز د ملت شه
معلول د دغه، یوه علت شه
لویي د خلکو، ده په خدمت کښې
لایق د دغه، لوی سعادت شه

## د فکر برکت

پــه تمــدن کــښــې چــې حــرکــت دی
هــغــه د فــکــر پــه بــرکــت دی
کــه لار د فــکــر، چــا کــړلــه بــنــده
ســعــادت نــشــتــه واړه ذلــت دی

## د فکر اهل

اهــل د فــکــر، هــر ســړی نــه دی
هو مـا پـه غرونـو، کې یو مارغه دی
کانې خو ډېر دي، لعل پـکښې نشته
نـه کـیمـیـا بـوټـی، هر یـو وابـه دی

## نابغه

ابتکار برخه د نابغه ده
کلی د چارو، دده سره ده
نبوغ محتاج ذی، وآزادی ته
علم بنو دلي، دا معجزه ده

## استبداد او نبوغ

نبوغ پامال شي، په استبداد کښې
ژوندون وبال شي، په استبداد کښې
و نا اهلانو ته بنه فرصت وي
نابغه گیر شی په خپل ایجاد کښې

## علم او استبداد

علم محتاج دی، روغې فضا ته
ګلان کړي هغه نمراو رڼا ته
قلم او ژبه باید ازاد وي
دا یوه لار ده، وارتقاء ته

## ملیت او بین الملليت

وخت داسې غواړی چې فرد ملي وي
له دې افرادو، دې واکوالی وی
چې ملت ټینګ شي، په حکومت خپل
دولت دې وروسته بیا دنیایي وي

## دنا اهلو واک

ښه مسلکونه کلبه بد نام شي
ښه مرامونه وي، خو ناکام شي
واک چې نا اهلو ته په لاس ورشي
واکوالي خلکو ته، لکه دام شي

## جاه طلبان

ملت روزنه،،، تربیه غواړی
اخلاق کړ نه تمنیه غواړی
د جاه د پاره چې واکوالي کا
فساد د خلکو په خدعه غواړي

## د ملت خیر

بهبودي خوښه، د هر انسان ده
له ځمکې نده دا له اسمان ده
بهبود د ټولو- خیر د ملت دی
دا منل شوې په دې جهان ده

## استبدادی قانون

واکوال په خوښه دې، د ملت وي
قانون په ګټه دې، د کثرت وي
مګر که حکم استبدادي وي
برخه د خلکو پکښې ذلت وي

## د خپل سر حکومت

بې انتخابه، بې له قانونه
چیرته چې واک وي او فرمانونه
د حشر نشر، ورځ همدغه ده
خلک بېزاره شي له ژوندونه

## نجات

قسم په عصر او رب د عصر
چې دا انسان دی، تل په خسران کښې
نجات یې نشته، بې له ایمانه
بې نېک عمله په دې جهان کښې

## انساني انحراف

ماکیا ولېزم عالم تباه کړ
او فروید ېزم پسې رسوا کړ
د خیر له لارې، چې منحرف شو
شیطان پرې سپور شو، بیا یې رسوا کړ

## مغربي فساد

ورځ د ازمېښت او د ابتلا ده
مغرب راوستې، په شرق غوغا ده
دوی ژوند د نورو په مرګ کې غواړي
ای ملتونو، څه مو صلا ده؟

## دین او مسلک

مسلک خو دین دی پری پوهیږی که نه
په هرډورڅ دین بدلیدلی نشی
که څوک دین نه مني، نو هم یې خوښه
خوځان بیدینه، څوک ښودلی نشي

## لا دیني او مسلک

چالادیني ځښې مسلک جوړ کړلو
دلته مسلک پخپله دین دی کنه
چې په مسلک باندی څوک لوبې کوی
نو دا سړی خپله بیدین دی کنه

## پالیسی او مسلک

حیران و دغو مسلکیانو ته یم
چې پالیسی لکه مسلک پېژني
دوی وسیله او هدف یو ګڼلی
ایمان په مثل د یو شک پېژني

## لیډر او ملت

لیډر په مثل د واکوال خو نه دي
چې اتکایی په قوت باندې وي
اعتباری دی د لیډر اعتبار
اعتبار واړه په ملت باندې وي

## پښتو او دربار

په شاهیت کښې پښتو ملي شوه
جمهوریت کښې پارسو ملی شوه
دربار ته لار د پښتو ونشوه
د دښمنانو ارزو ملي شوه

## پښتو او اکثریت

پښتو لسان د اکثریت دی
ټینګ په دې ټکي، افغان ملت دی
خو په عمل کی چی ورته ګورو
په پښتو شوی تل تجارت دی

## په پښتو ژبه لوبی

اکثریت چی تل تکراریږي
افغان ملت چې، مونږ ته یادیږی
مراد یې څه دی ، پښتون پوه نشو
په پښتو ژبه چی لوبې کیږي

## د افغان نوم

په دې هیواد چی، نوم د افغان دی
لکه د لمر چې، پاس په اسمان دی
جوړ د تاریخ اوله کارنامو دی
نه دا کوم ظلم، نه دا احسان دی

## افغانه وروره

لـه تـانـه ځـار شـمـه افـغـانـه وروره
ای غـیـرتـي ای مـسـلـمـانـه وروره
دنـیـا تـبـاه شـوه تـه یـی پـاتـه پـکـښې
اصلاح شروع کړه، له خپل ځانه وروره

## انگریزی چل

لـر یـی خـراب کـړ، پـه مـا مـنـزیـو
دا بـر یـی وران کـړ پـه چـل مـامـدزیـو
پـه لـوی پـښتـون یـې دا یـو چـل وکـړ
لـه سـل چـلـونـو د انـگـریـزیـو

## د انگریز ماته

انگریز چې مات شو ، پښتون تو تې شو
جوړ لوی پسات شو ، خاوری ایرې شو
ژبه ، دین قام او کولتور یې بایلود
نه د جومات شو ، نه د دېري شو

## قومي مرگ

په جنگ کښې وړ و صلح کښې پړ شو
په ځان پوه نشو ، په خاورو خړ شو
پښتون مغرورو چې زه ازاد یم
په دې غرور کې دغه دې مړ شو

## ویش مرگ دی

ژوندد قومونو په انسجام وي
په یومرکزاو، په یونظام وي
چې نور قومونو کښې ضمیمه شي
ژوندی په څه شي، به هغه قام وي

## ګډوډ ملت

ملت یو کیږي. چې یو کولتور شي
په ګډوډی کښې خلک مجبور شي
که ملت واړه یو وچود نشي
لمسه د نورو پکښې ضرور شي

## د حکومت عمل ته گوری

چې د توحید کار، حکومت نه کا
د گیدړو دیو په لاره تله کا
امید تري مکړی، د ښو کارونو
که څه هم لافی، هر څو مره وکا

## پښتون قام ته

پښتانه استاځی

سپینتمن راوړ د ژوند کتاب
کلي رایج کړ، د خوند کتاب
خیر البیان شو، الهام روښان ته
خادم ته راغی، د ژوند کتاب

## څلور کتابه

څلور استائې، څلور کتابه
درته راکوز شول، له لوړ جنابه
پښتونه لار دې، حق ته مونده کړه؟
که لا ویښ نه یې د مرګ له خوابه

## سم انسان

پښتون اخستی، نور له قرآن دی
چې له ازله، په دې جهان دی
په دی کجروه، دنیا کی سم څوک
که چېرې وي نو، هغه افغان دی

## سپېڅلی قوم

له سپین تمانه، تر نن زمانه
په مخ د ځمکې، تیتې له اسمانه
محمدي او احدي نشته
سپېڅلی قوم، بې له افغانه

## د حق اول غږ

موحد بل یو ، بې افغان څوک دي؟
وګرېیه وایه، سپین تمان څوک دي
د حق اول غږ یې له پښتونه
که چا وي کړی، دا انسان څوک دي؟

## د قران ساتونکی

له مخ د ځمکې، چې ایمان والوت
د احمد روح چې، له جهان والوت
په غبېر کې چا ؤ، اول نیولی
چا دی ساتلی چې قران والوت؟

## د ظلم منکر

په استعمار چا اول حمله کړه؟
له غلامۍ چا بیخي توبه کړه
دا یو افغان دی، دا یې جهان دی
په هر ظالم یې چې توره سره کړه

## پس له تباهی

عرب را پرېښود قرآن و ما ته
زه به يې پرې نږدم، هېڅ، و بل چا ته
له ډېره حرصه چې ځان تباه کا
انسان به مخ کا و، دغې خوا ته

## انسانی افکار

مذهب، مسلک يې که فلسفه ده
نو مونه ډير دی معنی يو ده
د ژوندون لاره چې سم سرک کا
هم دغه شرعه ده هم جاده ده

## اهداف

هدف که خیر وي، نو شر یې نشته
که څوک نېکي کا، ضرر یې نشته
که یې علو او فساد مراد وي
نو لارکړه ده، رهبري یې نشته

## باداري غوښتونکې

چې ورانکاري کا، دا استعمار دی
چې نور ذلیل کا، دا استکبار دی
په نوم د اېزم وي، که بې له اېزمه
چې په هر نوم وي، دغه بادار دی

## سړی قام

چـې بـاداري اوورانـکـاري نـه کـا
خدمت يې کار وي، سرداري نه کا
دا يـو افـغـان دی پـه دې دنـيـا کـې
چې سړيتوب کا، خپل چاري نه کا

## د انسان هدف

لـه هر مـذهـب او لـه هـر مـسـلـکـه
مراد تهذيب دی، بې ريب او شکه
بـې سـړيـتـوبـه تمـدن نـشـتـه
کـه پـه اسـمـان هـم، جـنـډه کـا لـکـه

## ايماندار قام

په سرېتوب يې چې ټينګ ايمان دی
چې يې په سترګو ايښې قران دی
فريب، دغا او ټګماري نه کا
ټول د دنيا کښې دا يو افغان دی

## ملت سازول

هر وطن نظام غواړي امام غواړي
حق لاس ته راوړل، ملي قيام غواړي
هر ملت چې وران شي سازول غواړي
دا کار حوصله غواړي، دوام غواړي

## نصيحت

نصيحت تخم، سړی دی څمکه
چې زرغونېږي هله يې وکه
که حاصل غواړې، څمکه کره جوړه
چې پېښنه نکړې ځان ته دې سپکه

## پښتون او استعمار

پس له رنسانسه چې نيشنلېزم
واغوست نقاب، د ماکياولېزم
لويه فتنه شوه، ټولې دنيا ته
بيا شو بدل، په امپرياليزم

***

امپریالېزم چور اقتصاد کړ
چې مسلط شو، شرق یې برباد کړ
پول او پیسه یې کړله راټوله
خلک تباه او ځان یې اباد کړ

***

امپریالیست چې کاپیټالست شو
مخکښې پیدا یې، بیا کمونست شو
یوه بلا وه، اوس دوه بلا شوې
ګیر یې په منځ کښې ناسیونالست شو

***

امپریالیزم لویه بلاوه
د عصري پوهې، دا انتها وه
شوه مسلطه، پر افغانانو
د خدای له خوا نه، دا ابتلا وه

***

دوره وه تېره، د بابریانو
هند بیا په لاس و، د افغانانو
امپریالیزم، په زوره واخیست
هند له کمزورو، مسلمانانو

***

يو ځل افغان بيا سر را اوچت کړ
خوندي په زور يې خپل تللى پت کړ
د احمد شاه د بيرغ نه لاندې
يې استعمار ته ښکاره قوت کړ

## د انگرېز ماته

انگرېز جوړ کړی، يو لوی پلان و
دده په مخکښې دا لوی جهان و
چه افغانانو، درې ځله مات کړ
په مخکښې تگ کښې بيا پرېشان و

## پښتون دښمنی

جهان یې پرېښود افغان یې ګیر کړ
بادشاه افغان یې یکی امیر کړ
انګریز ترې هر خوا ملکونه بېل کړه
کوچنی افغان یې، منځکښې اسیر کړ

## پس له انګرېزه

دوه سوه کاله، افغان مېده شو
په چال، حیله او په دسیسه شو
انګرېز چې خپله، کولی نه شو
هغه کار خپله په دوی پوره شو

## افغان او ازادی

اتــه شــرطــونــه د مــلــيــت تــول
مــتــمــات د افــغــانــيــت تــول
چــی څــه وو پــاتــی پــه غــلا مــی کــی
پــه ازادی کښېږي ترې شوه غارت تــول

## استعماری طلسم

نــومــونــه شتــه دی، معــنــا يې نشتــه
اورونــه شــتــه دی، ځــلايــې نــشــتــه
د اســتــعــمــار دي، عــجــب چــالــونــه
بــرقــونــه شــتــه دی، رنــا يــی نــشــتــه

## ددښمنۍ ثبوت

ورشئ کتاب د (پټهان) وګورئ
(کیرو) جوړ کړی، پلان وګوری
همدا پلان، په افغان تطبیق شو
راشی اوس حال د افغان وګوری

## ساک او پښتون

دا یو پښتون و، کله ساکی شو
کله یوچی وبیا کوشانی شو
چی کوشانا شوه، کوم وخت خرابه
همدغه قام و، چی یفتلی شو

## پښتانه قومونه

پهلوایان وو له ساکو پارته
پارتیان پښت وو له خپله ذاته
ساسان یې جمع ساس هغه ساک
چه په افغان دی تر اوسه پاته

## پښتون په اسلامېزم کښې

په اسلامېزم کې پښتون برو
په اشیا کښې لکه رهبرو
چې نیشنلېزم بیرغ اوچت کړ
دی له جهانه، نه نا خبرو

## شپږ سوه کاله جنګ

### ۱ – مغول

څلور پېړیه په هند کې جنګ و
هند تر بنګاله، په وینو رنګ و
مغول اخیستی، هند له افغان و
څکه د هر یو، په بل غور ځنګ و

### ۲ – د انګریز سره جنګ

چې انګریز راغی، مغول تر شا شو
پښتون ومخ ته، ددې بلا شو
ستړی ستومانه، له مغولوالی
پښتون تری لاندې انګریز بالا شو

## دناکامی علت

انګریز جوړ کړی، قوی ملت و
مضبوط په نظم، د خپل دولت و
پښتون غافل و، له نوی عصره
د ناکامی مو دغه علت و

## د ناکامی علاج

له نښتلښزمه نه چور غافل دی
پري نه پوهیږي، ځکه عاطل دی
علاج یی نشته، بی تولنپاله
دښمنان وایي، پښتون جاهل دی

## ملی حکومت

چې واکوالي مو، څو ملی نه شی
کارونه واړه افغاني نه شي
مخ د بنې ورځی، په مونږ حرام دی
د علم چاری ګماني نه شي

## افغاني محک په کاردی

نظام په کار دی، مسلک په کار دی
ایمان په کار دی، خو کلک په کار دی
چې د خادم او خائن فرق وشی
د افغانیزم، محک په کار دی

## هر څه پردي

افغانستان کښې هر څه پردي دی
بې له جوازه، تجارتي دي
ايډيالوژي هم، قاچاقي راغله
ځان ته حيران يې، هوښيار سړي دي

## دا افغاني محک دی

محک پښتو ده، بيا پښتنواله
مونږ ته غضب دی، نن فرنګواله
اصيل کولتور، د افغان دغه دی
دا روح د قام دی دغه يې خواله

## پر محک سم

چې پر محک څوک پښتون را وخوت
وړ د اصلاح او سمون را وخوت
ور پسې درومئ ، ملالې کړۍٔ تينګه
دافال زمونږ د ژوندون راوخوت

## طفلانه کارونه

که ژوندون غواړیٔ پر لارې سم شیٔ
پښتنو پاخې ، د ځان پر غم شیٔ
کوچنی کارونه طفلانه پرېږدیٔ
د هندوکش غر غوندې محکم شیٔ

## د نصوص هدف!

نصوص مې راوړ چې عزتمن شئ
په ملتونو کښې قدر من شئ
ای عزیزانو، د خدای د پاره
خبر له قام او له خپل وطن شئ

## خدایي نصوص

له خدای که نه وي، نصوص له چا دي؟
دادی له مینې که له هوا دي
که مینه پاکه وی بیغرضه
خصلت د رب دی کار د مولا دی

## پر محک سم

چې پر محک څوک پښتون را وخوت
وړ د اصلاح او سمون را خوت
ور پسې دروغ ، ملالې کړئ ټینګه
دافال زمونږ د ژوندون راوخوت

## طفلانه کارونه

که ژوندون غواړئ پر لارې سم شئ
پښتنو پاځئ ، د ځان پر غم شئ
کوچنی کارونه طفلانه پرېږدئ
دهندوکش غر غوندې محکم شئ

## د نصوص هدف!

نصوص مې راوړ چې عزتمن شئ
په ملتونو کښې قدرمن شئ
اې عزيزانو، د خداى د پاره
خبر له قام او له خپل وطن شئ

## خدايي نصوص

له خداى كه نه وي، نصوص له چا دي؟
دادي له مينې كه له هوا دي
كه مينه پاكه وي بيغرضه
خصلت د رب دى كار د مولا دى

## د خير کارونه

د خیـر کـارونـه ټـول رحـمـانـي دي
دا اسـمـانـي دی، کـه زمـيـنـي دي
چې نتـیـجـه یې، شر او فـسـاد وي
زمـونـږ لـه ځـانـه او شـیـطـانـي دي

## شيطان

نصوص او پښتون

زمونږ په ذات کښې نېکي او شر شته
زړی د خـیـر او هـم د ضـرر شـتـه
مـا نـصـوص راوړ، د خـدای پـه امـر
تـا تـه یې د تـخـم اختـیـار د کـر شتـه

## ملت ساتنه

خلک هر څه کا خو ملت ساتی
په ملت نه کا کار د میراتي
نیم قرن پس شو ایران له مونږه
اوس څو پېړیه مونږه شو پاتی

## د وروسته والي علت

چې ملت نه وي، حکومت نشته
چې هویت نه وی نو ملت نشته
که لږ ځان پوه کړو، په انحطاط خپل
ضعف د کولتور دی بل علت نشته

## بلواکی

د خدای د پاره حزبه واکواله
دا وطن ستا دی، مه یې پرېږده چاله
د خپلواکۍ نه، چې څوک بلواک شی
لکه چې پرېوځي، تحت الثری له

## افغان مشر غواړي

افغان لا اوس هم حر او ازاد دی
دا یې ایمان دی، دا یې نهاد دی
په ولړه تنده، هیڅ خبر نه دی
ولاړ د مشر، په انقیاد دی

## ویــــــره

### افغان او خپلواکي

ای لــویــه مــشــره، لــویــه لــیــډره
ویــره بــهــر کــړه، لــه خــپــلــه ســره
پــه خپــلــواکــی د افــغــان ایــمــان دی
وېــره یــی نــشــتــه لــه بــل خــطــره

### د ایمان نعمت

ایــمــان یــو داســي، لــوی ثــروت دی
چــی ورنــه وروســتــه هــر یــو قــوت دي
خدای دی ورکړی، دي غــیــور قــامــتــه
ځــان یــی ســاتــلــی، تــل پــه غــیــرت دی

## منلی حق

که افغان خپله، خپلواکي غواړي
یاد بنی ورځې، په غم کښې ژاړي
دا خود هر قام، منلی حق دی
چې په تاریخ خپل، باندی وویاړی

## افغاني شعار

دا افغانانو دا یو شعار دی
ترې خبر شوی، هر استعمار دی
ازاده قام دی، ازاد به اوسی
خاوند ورکړی دا کوهسار دی

## د واکوال او لیډر توره او سپر

واکوال چې واک کا، زور یې تبر دی
ملت یې توره ده، هم یې سپر دی
بې ملي زوره، به څوک تینګ نشي
هغه واکوال دی او که لیډر دی

## نیشنل ورور ته

نیشنله وروره، څیر شه اساس ته
ځان ته وګوره، بیا کوزو پاس ته
خپل خیر و شر دې، پخپله تول کړه
بیا مخ را ستون کړه خپل عام و خاص ته

## قام او لیډري

قام خپله ګټه، ګوري لیډر کښې
تل کاندي فکر د ده هنر کښې
چې چال یې نه وي، د قام په ګټه
ورنه اباکا، په لوی محضر کښې

## ګټهور سیاست

سیاست، کار د انحصار نه دی
هماغه ښه دی چې قام ته ښه دی
چې ګټه نشي، کولای قام ته
د قام په ګټه وایه په څه دی؟

## دنیایی محشر

دنیا پخپله، لکه محشر دی
ټول په حساب دي، خیر او که شر دی
که تله سپکه د چا د خیر شوه
نو خیر یې نشته دا یې ثمر دی

## قومي افغاني حکومتونه

چې د قام له خوا باد شاه و
یو میر ویس، بل احمد شاه و
چې په هند کښې باد شاهان وو
یو بهلول او بل شیر شاه وو
له امان څخه کار وران شو
که نه قام ورنه رضا وو

## پردی لاسونه

افغـان کـښـې کـار کـا ، پردي لاسـونـه
پـکـښـې يـې رواج کړل ، غـربـي دودونـه
تـولـنه تـيـنـگه ، پـه خـپـل هـويـت شـي
وحـدت تـبـاه کـا ، پـردی خـويـونـه

## پښتون ولې غريب دی ؟

يا واکـوال دی يا ليډر دی ، يا عـالم دی يـا اديب دی
په پښتون کی يو هم نشته ، ځکه هر چانه غريب دی
وظـيـفـه ده ډيره گـرانـه د اديـب شـاعـر پـه غـاړه
پـه قـلـم دی ودان شـوي د جـهـان قـومـونـه واړه

## دین او ملیت

اسلام مو دین دی، لار ملتواله
د خدای غضب دی، نن فرنگواله
مسلمانان تول دي، سیلاب یوورل
پښتون لا تینګ دی، په پښتنواله

## لوی سنگر

واستعمار ته پښتو سنگر دی
د جنگ میدان کښې مو لکه سپر دی
فرنگ را مات کړل، تول سنگرونه
مخکښې یې پاتې دغه سپین غر دی

## له بد بتر

لر پښتو پرېښوه، په بله سر شو
بر پښتو ورانه کړه، معتبر شو
دا د نن ورځې د پښتون حال دی
ازار وهلی له بد بتر شو

## ایمان خرڅوونکی

مقدسات چې په پیسه پلوری
څوک چې عزت خپل، ذلت کې گوری
دا خلک شته دي، په پښتو نخوا کښې
د خدای لعنت به، وربان‌دی اوري

## بی مارکه افغان

نن يې يو رنګ دی سبا يې بل دی
څوک نه پوهېږي، چې کوم يې خپل دی
عجب افغان دی چې مارک يې نشته
د پېښور دی، که د کابل دی

## ليډر که شارلتان

څوک چې ختيک په ختيکي خرخوي
مونږ يې هوښيار او که نادان وګڼو
قام او کولتور چې ورته توکې ايسي
نو يې ليډر که شارلتان وګڼو

## د حریت لار

د ویښ زلمیانو، افغان ملت لار
افغان ولس او د ثقافت لار
پښتیانا ته، لار د نجات ده
خادم ښودلي، د حریت لار

## مسلطه بلا

په استبداد کې ملت خراب وي
نازل په خلکو، باندې عذاب وي
چې مسلط شي قدرت بلا ده
لا چې په شکل د انقلاب وي

## ځان بربادی

ما ويل ازاد به شمه
ديموکراسي مې غوښته!
ما ويل په آب به شمه
سوسيالستي، مې غوښته
په دواړو لارو کښې ناست
د استعمار وو بچي
خبر له ځانه نه وم
ځان بربادي مې غوښته

## زما قسمت

ځنې ودان شول، په ملیت کښې
هوسا ژوندون کا، په خپل دولت کښې
چا لار پیدا کړه، د کمونېزم
خوارې لیکلې، زما قسمت کښې

## څه وکړم؟

چــا پــه يــوه نــوم وخــوړم، مــات کــړم
چــا پــه بــل اســم، تــبــاه مــيــرات کــړم
ای نـــرېـــوالـــو د خــــدای د پـــاره
لــه کــومــی لاری پــيــدا نجــات کــړم؟

## ملي زور

پــه انــقــلاب چــا ، دولــت قــوي کــړ
چــا پــه همدې کــار ، مــلــت خصــي کــړ
چــا لــه مــلــتــه، واک پــه زور واخــيــســت
خــو چــا هــمــدا واک، پــه زور مــلــي کــړ

## ددنیا ژوند

د وفا طمعه تري مکړ + دنیا ډیره بېوفا ده
هر څه اوړی تحول کا + دا د عصر تقاضا ده
خیرله شرځنی تمیز کړه + که څه ژوند دی مدعا ده
نیکی بنه ده له بدیه + په همدی ټکی فتوا ده

## عرصات

دا ازادی ده ، او مساوات دی
که دی قیامت او نن عرصات دی
هر څه مو وران شول ، ودان هیڅ نشول
دا ابادي ده ، که دا پسات دی؟

## محاصره

پسات په هر چا، راغی او تېر شو
خو د پښتون قام، پکښې را ګېر شو
له هرې خوا نه، محاصره شو
د سرېتوب چل ورځنی هېر شو

## ګیله او شکوه

ګیله له خپلو شکوه له خپلو
له خپلو پوهو میدان ګټلیو
قام یې تباه کړ، د بل په لمسه
زړه یې خوړ نشو، په دې ځپلیو

## دوه ژبې

ملي ژوند نشته، بې قومیته
قومي ژوند نشته، بې له وحدته
چې ژبې دوه شي، په یوه خوله کې
وحدت حرام دی، افغان ملته

## بې دستوره افغان

ژبې یې دوه دي، کولتور یې نشته
سترګې یې شته دی، خو نور یې نشته
افغان خو شته دی، خو پښتون نه دی
خلک خو شته دي، دستور یې نشته

## د ژبې وحدت

چې ژبې دوه شي، ملت دوه کېږي
وطن که یو وي، نو ګډوډېږي
وحدت د ژبې، وحدت د قام دی
ملت په ژبه باندې جوړېږي

## د ملي ژبې قانون

د ډېرو خلکو ژبه ملي وي
معنا یې دا ده، چې دولتي وي
دنیا منلی، دغه قانون دی
په دې پوهېږي، چې څوک سړي وي

## پښتون راپريوت

پښتون را پريوت، له مليته
يو بفرستيټ شو بې برکته
د نورو خلکو، د مزو ځای شو
دا به يې حال وی، ان تر قيامته

## عذاب د قبر

جمهوريت او قانون مو ولید
حال د بدبخته، پښتون مو ولید
د مړي حال او عذاب د قبر
د سر په سترګو، مضمون مو ولید

## د افغان مړی

د افغان مړی خوري ګوزارونه
له هرې خوا شي، پرې ګوزارونه
د حشر نشر، ورځ يې لانه ده
هلته به ځومره، وي عذابونه

## ناهيلي

اميد مو نشته، نورو افغان ته
اوس به نور ګورو، حال د جهان ته
چې د ظلمونو، جهان تبديل کا
دغه مو عرض دی، و پاک سبحان ته

## سرلوړی

چې ملت نه وي حکومت څه کړم
ثقافت نه وي نو ملت څه کړم
چې په دنیا کښې سرلوړی نشم
د څوکسانو، به عشرت څه کړم

## د اسلام ارکان

ایمان اسلام کې رکن اول دی
سخ دی د هغو، چې دایې کامل دی
بیا عبادت او بیا شریعت دی
بیا په اخلاقو، تکمیل د کل دی

## اسلام او عبادات

عبادت جزء د مسلمانی دی
سبب د فضل او مهربانی دی
لمونځ، روژه جزء دی د عباداتو
کل تری جوړ کړی زمونږ خامئ دی

## پردی حکومت

حکومت زور دی، هر څه کوی شي
واک لوی قوت دی، های که پردی شی!
د یوې ورځی حاکم چې غواړي
د سلو کالو کور ورانوی شي

## چې افغان یاد کړم

چې افغان یاد کړم، ژړا مې راشي
له خپله ځانه، حیا مې راشي
تېښت واړه جګ شول، مونږ لا تېښتېږو
خپل عاقبت ته، سودا مې راشي

## مکتب او د فساد پلان

نه دا پښتون دی، نه دا افغان دی
چې له مکتبه، وتلی ځوان دی
دا چاری ښنګه په مونږ وشوی
دا ددې عصر، یو لوی پلان دی

## د پښتون توهين

توهين د ژبې توهين د قام دی
ننګ تونځل د ژبې يو لوی مرام دی
پښتو ملي وه، ولې شوه تيته
دا سوال په مينه او احترام دی

## يونو او پښتو

«يونو» منلی پښتو ملي ده
او له ژبه او هم رسمي ده
اکثريت يې، ترشا ولاړ دی
دري نو څنګه يې مساوي ده

## په پښتو لوبی

پښتو جګیږی بیرته تیتیږي
دا کوم کسات دی چی نه خلاصیږي
له میرویس خانه، تر نن زمانه
په پښتو ژبی دا لوبی کیږي

## نوین

نوین چی راغی ، رشتیا روان شو
فرید غائب شو، جاوید حیران شو
کیرو جوړ کړی پلان تکمیل شو
وایی چی ختم کار د افغان شو

## د نشنل پارتی

## (مترقی افکار)

افتخار می نه په قام نه په لسان دی
چی څوک ځان په کوم مذهب بولی نادان دی
وطن هغه چی شپه شی پکی تیره
ماته یو دی، پیښور، که هندوستان دی

## انسانی کولتور

د کولتور په قید دی ځان څله بندی کړ
یوکولتور دی، یو آدم دی یو جهان دی
د غرض لاسونو دا وحدت تباه کړ
سپیلنی می کړی له هغه چی انسان دی

## ملي تخریب

هر څه یې وران شول سم یې هیڅ نشول
دافغانانو هر څه کاړه شول
ناهیلي دومره، ور باندې زور شوه
چې له ژوندونه، ځینې ماړه شول

## ناهیلي

په ژوند پکو دي، ستړي ستومانه
چور نا امید دی، له نن سبا نه
مسافر شه دی، کور ته به لاړ شي
افغان مایوس دی، له کل جهانه

## بېکسه افغان

دا يې خپلوان دی، هغه شرقيان دي
هاغه پردي دي، هوغه غربيان دي
هر څوک د خپل ځان، په غم اخته دي
بېکس او کويه، دا افغانان دي

## ځان خوري

ډيوايه راغی، په څو څو قسمه
ملت تېو کړی شو، په څو څو اسمه
په خپلو غوښو، د ځان اخته دی
افغان خوراک کا، له خپله جسمه

## بد بخته افغان

زاړه قومونه واړه ځوانان شول
بې افغانانو، چې بدبختان شول
د سر سړي يې واړه سرکوب شول
په ورانو سر يې، نوي ځوانان شول

## ايزمونه تېينګ شول

هرڅوک ترې ګټه، کاندي خپل ځان ته
شا اړولي، ټولو افغان ته!
ايزمونه تېينګ شول بې افغانېزمه
اوس مو هيله ده وپاک سبحان ته

## بد استعمار

چې استعمار نه پاتې پلان و
ان له کوروشه، تر دې زمان و
زما د خپل ورور، په لاس تکمیل شو
ملي تخریب، چې څه د افغان وّ

## د ورور په توره

واړه شکوې یم، ګلې ګلې یم
غریب سړی یم ډېر بې اسرې یم
ای زما وروره دا ستا په توره
ټوکرې ټوکرې یم، ټوټې ټوټې یم

## زوړ سړی

سړی زوړ شوی دی، هم بیمار دی
د هیڅ کار نه دی، د اوړو بار دی
کډو پری ایښی، لویه بیدیا کی
اوس د لیوانو، په انتظار دی

## توکل

قوت لا شته دی په مسلمان کښې
توري لا پاتې دي په پاک قران کښې
مایوسه نشئ د خدای له رحمه
ای افغانانو په لوی جهان کښې

## د دنیا تولـه بد مرغي

چـې بـدی ورځـی او بـد بـخـتـئ وې
بـد شـامـتـي وه، کـه کـمـبـخـتـئ وې
افـغـان تـه راغلې، پـه دی زمـان کـی
چې پـه دنـیـا کـښـې څـه بد مـرغـئ وې

## وحشت

وېـره او مـرګ او وحـشـت یـی راوړ
چـور او چـپـاو او غـربـت یـی راوړ
اطـمـیـنـان لاړ، لـه افـغـانـسـتـانـه
تـرقـی نـه وه وحـشـت یـې راوړ

## د قتل حکم

له استعماره ځنې منکرؤ
په دین د کفر کښې دی کافرؤ
قتل ثواب و، د افغانانو
ځکه دا حکم، په ده صادرؤ

## ملي تخریب

له هرې خوا نه تخریب یې ولید
د حشر ، نشر ، تعذیب یې ولید
افغان تباه شو په دسایسو
چې د ېر بعید و ، قریب یې ولید

## د ملت قاتلان

پښتون یې مړ کړ، په لاس د خپلو
څه په ښخیو، څه په اودلو
یوه دانه یې د وڅکي ورکړه
قوم هلاک کړ، د غو ښاغلو

## پلان

رشتیا چې مړ شو، پښتون کابل کښې
دا جوړه شوې وه، په اول کښې
یو بدل نوم هم چا ور پرې نښود
پلان تکمیل شو، اوس سل په سل کښې

## دوه نيم زره كاله مبارزه

كوروش مو مړ ، قباد مو خړ كړ
بيا سكندر مو ، شطرنج كښې پړ كړ
كسات مو نشو ، پاتې مغول ته
په انگليسانو ، خداى پښتون وړ كړ

## يوه سلگۍ

په ورور مو وژنې ، و ژاړو چاته
اوس مو زارۍ دي ، و پاک مولا ته
زخمي زخمي يم ، ټوټې ټوټې يم
يوه سلگۍ مى ، ده خوله كښې پاته

## پام کوه

پښتون به مړ کړي، شرق به غلام کړي
په لوی تاریخ کښې به څان بد نام کړي
که سد دی مات کړ، کور به دی ړاگ شی
اوس دې نو خوښهٔ، که ورته پام کړي

## سهوه

لقمې دې جوړې، بیا ورا هدا کړی
له لوی رقیبه، څه تمنا کړی
چې ښه قوي شې نو تا به پریږدی
نادان خو نه یی، دا څه سودا کړې

## مشوره

که سودا گر يې، دا سودا پرېږده
که يې ماهر دا مدعا پرېږده
که ريالست يې، پښتون خو قام دى
څله يې وژنې دا صلا پرېږده

## دژوند اوبه

دژوندون لار ده مشکل گذاره
هو شرط ئې دادى چې ته به درومې
دژوند اوبه دي تپه تياره کې
خو که ته درومې نو څه به مومې



مولانا قیام الدین خادم

شاعر او لیکوال، د دری پنځوسو کتابونو او رسالو او سلګونو مقالو لیکونکی، د زیري، اتحاد مشرقي، طلوع افغان جریدو، د کابل مجلې او د اصلاح دورځپانې چلوونکی، د هېواد د مؤسسې رئیس، د ادبیاتو د فاکولتې استاذ، د پارلمان د مشرانو د جرګې غړی، د افغان ولس او د افغان ملت د ګوندونو مؤسس او د ویښ زلمیانو د ګوند یو مؤسس او غړی ؤ.